New Life
Programme

# د مقدس کتاب
# سره
# آشنا کیدل

ICI University

# د مقدس کتاب
# سره
# آشنا کیدل

لیکونکی: ایل جیتر واکر

*ICI University*
P.O.Box 25749
1311 Nicosia, CYPRUS

# د مقدس کتاب سره آشنا کيدل

اول چاپ: ۱۹۹۹

**Posho "Your Bible" 1999**

**Your Bible**

*By L.Jeter Walker*

*ICI University*
P.O.Box 25749
1311 Nicosia, CYPRUS

فهرست

عنوان صفحه


د لوستونکو سره یو څو خبرې ١

لوست د مقدس کتاب د لوستلو ګټې ١٠

لوست هغه کتاب چه خدای مونږ ته راکړی دئ ٢٧

مونږ څنګه کولای شو چې په مقدس کتاب کې هغه شی پیدا کړو کوم چې غواړو ٤٩

د مقدس کتاب، کتابونه ٦٢

د نوي عهد کتابونه ٨٨

مونږ څنګه پدې باندې یقین کولای شو چې مقدس کتاب د خدای کلام دئ ١٠٩

# د لوستونکو سره يو څو خبرې

محترمو لوستونکو! آيا تاسو سره تر اوسه پورې په دې خبره باندې فکر کړی دئ چې مقدس کتاب تاسو سره څنګه کولای شی مرسته وکړي؟ آيا مقدس کتاب په رښتيا سره د خدای کلام، او هماغه پيغام دئ چې خدای انسانانو ته راليږلی دئ؟ مقدس کتاب ولی او څنګه وليکل شو؟ شايد چې داسې ډير سوالونه ستاسي په ذهن کې را پيدا شوي وي، نو که چيرې داسې وي، نو دا کتاب ستاسو د پوهولو لپاره دئ.

څو کاله دمخه د اسرائيلو پادشاه داؤد هغه احساس چې يې د خدای د کلام لپاره درلود داسې بيان کړ.

"ستا کلام زما د قدمونو د پاره چراغ او زما د لارې رڼا دئ." (زبور ۱۱۹: ۱۰۵)

مهمه نه ده چې تاسو څوک ياست، او چيرې اوسيږی. او دا هم مهمه نه ده چې تاسو د کومو او څنګه مشکلاتو سره مخامخ ياست. او يا دا چې څه تصميم لری. تاسو کولای شی چې لکه د داؤد په شان هره موضوع که ولرئ بيا هم هغه احساس او اطمينان د خدای د کلام سره ولری کوم چې داؤد درلود ، دا دوره نه يوازي دا چې تاسو سره د مقدس کتاب د ليکلو په باب کې مرسته کوي، بلکه کيدای شي چې تاسو د

همدې په وسیله د خپل روزمره ژوند لاربنوونه حاصله کړی او په هغې باندې متکي اوسی. په هم دې وجه د زده کولو نوي لارې او طریقې په دې کتاب کې په نظر کې نیول شوي، تر څو تاسو د اساسي اصولو په لار کې تشویق او رهنمائي کړي، نو بیا تاسو بې له کومه ځنډه هغه طریقو ته د عمل بڼه ورکړی.

## ستاسو اهداف څه دي؟

د دې لپاره چې تاسو له خپلې مطالعې څخه ښې نتيجې په لاس راوړئ، نو ښه به دا وي چې ځان ته مشخص هدف وټاکئ او هر څه چې د هغې لپاره لازم وي، هماغسې وکړئ. دا اهداف بيا ولې نه معلوموئ؟
تاسو بايد دا خبره زده کړئ چې له مقدس کتاب څخه په کومه طريقه کار واخلئ.
ايمانداران ولې مقدس کتاب د خداى لخوا نه د شخصي پيغام په صفت مني.
خپل مقدس کتاب هره ورځ ولولئ.
مقدس کتاب د خپل ايمان او رفتار لپاره د لارښوونکي په صفت ومنئ.

## ستاسو، هدايت کوونکۍ کتاب

ستاسو لارښود يا هدايت کوونکۍ کتاب، هغه کوچنۍ جيبي کتاب دۍ چې بايد هر وخت يې د خپل ځان سره ساتئ، نو هر کله چې لږ وخت په لاس درځى، نو هغه لولئ. دا کوشش وکړئ چې هر ورځ لږ څه وخت د مطالعې لپاره مقرر کړئ.
د مطالعې په وخت کې به تاسو د هر لوست په شروع کې، د هغه لوست د هدف او مقصد سره مخامخ کيږئ. د هدف او مقصد کلمه په دې کتاب کې په دې

خاطر استعمال شوي ده چې: یعني هر څه چې مونږ د دې لوست نه هیله او امید لرو هغه تاسو ته زده او تشریح کړي. که چیرې د مطالعې په دوران کې مو د درسونو هدفونه په مسلسله توګه په خپل ذهن کې ساتلي وي، نو هغه نتیجې کومې چې به د دې کتاب د مطالعې څخه په لاس راشي، نو په رښتیا سره به اطمینان لرونکي او ګټوري وي.

تاسو ته دا نصیحت کوو چې د هر لوست لمړنۍ دوه صفحې حتماً ولولۍ. دغه لمړنۍ صفحې به د مطالعې لپاره ستاسو ذهن د لوست پاتې برخو ته چمتو او تیار کړي. د دې کتاب درسونه په تدریجي توګه مطالعه کړۍ او هر هغه څه چې تاسو نه د "هغه کار چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ" په هکله غوښتل شوي وي، نو باید چې هغه په پوره پاملرنې سره مراعات کړۍ. که چیرې د جواب لیکلو لپاره تاسو ته مناسب ځای د لاربښود په کتاب کې موجود نه وي نو کولای شۍ چې د یاد داشت کتابچې څخه استفاده وکړۍ او په مناسب وخت کې هغې ته مراجعه وکړۍ. تاسو که چیرې دا دوره د یو ګروپ سره مطالعه کوۍ، نو دا ضروري ده چې د ګروپ مشر چې هر څه بیانوي د هغه څخه تابعداري او متابعت وکړۍ.

# تاسو باید سوالونو ته په کومه طریقه جواب ورکړۍ

ستاسو د لاربښود په دې کتاب کې ډول، ډول سوالونه موجود دي. لاندې د دې سوالونو مثالونه او هغوی ته د جواب ورکولو ذکر شوئ دئ.

د صحیح جواب ټاکل- د یو څو جوابونو له منځ څخه سوال دئ چې ستاسو نه دا هیله لري چې د یو څو جوابونو له منځ نه، صحیح جواب وټاکۍ.

د مثال په توګه:

۱ - هره اونۍ ........ لري

الف- ۱۰ ورځې

ب- ۷ ورځې

ج- ۵ ورځې

صحیح جواب (ب) یعنی له ۷ ورځو څخه عبارت دئ.

نو تاسو کولای شۍ چې د خپله لار ښود په کتاب کې د ب څخه دایره تاؤ کړۍ. امکان لري چې ځینې له دې سوالونو څخه یو څو صحیح جوابونه هم ولري، نو تاسو باید د ټولو صحیح جوابونو څخه دایره تاؤ کړۍ.

صحیح یا غلط: هغه سوالونه دي چې تاسو یۍ باید د یو څو جوابونه په مینځ کې پیدا کړۍ او له هغوی نه صحیح جواب وټاکۍ.

## د سوالونو مثال

۲ - په لاندې جملو کې کومه جمله صحيح ده؟

الف- مقدس کتاب د (۱۲۰) کتابو څخه عبارت دئ.

ب- مقدس کتاب د ننني ايماندارانو لپاره پيغام دئ.

ج- د مقدس کتاب ليکوالو خپلې ترجمې په عبراني ژبې ليکلي دي.

د- روح القدس د مقدس کتاب ليکوالو ته د کتاب د ليکلو لپاره الهام وبانبه.

د دې مثالونو صحيح جواب د (ب) او د (د) څخه عبارت دئ، نو تاسو کولای شی چې د پورتنې مثال په مطابق د (ب) او (د) څخه دايره تاؤ کړی. تر څو ستاسو ټاکنه معلومه او څرګنده شي.

## ارتباطی سوالونه

دا هغه ډول سوالونه دي چې تاسو ئې بايد ځينې موضوع ګانو ته د نورو مطلبونو سره اړيکې تشريحاتو سره او يا دا چې د مقدس کتاب د کتابونو نومونه د خپلو ليکوالو سره.

## د سوالونو نمونه

۳- په لاندې جملو کې هغه اعمال چې د موسیٰ او یوشع په واسطه سر ته رسیدلي دي عنوانیږي. د هغوی عملونه معلوم او مشخص کړی او د هغوی نمره د خپلو مربوطه جملو سره ولیکی.

الف- د خدای لخوا د سینا په غرهٔ باندې شریعت ورکړ شو.
ب- بني اسرائیلو ته ئې د اردن د سیند څخه د تیریدو لارښوونه وکړه.
ج-د اریحا په ښار کې اوهٔ ځله پیاده وګرځیده.
د- د فرعون په دربار کې ئې ژوند وکړ.

۱- موسیٰ
۲- یوشع

"الف" او "د" د موسیٰ او "ب" او "ج" د یوشع په هکله دي. او په دې هکله اسناد موجود دي. د الف او د (د) تر څنګ (۱) د ب او ج تر څنګ (۲) ولیکی.

## ورستنی آزموینه

که چیرې ستاسو هدف د دې دورې له مطالعې څخه د ګواه نامي پیدا کول وي، نو د دې کتاب سره به یو کتاب (د ورستنیو سوالونو د آزموینې په نوم) بیا مومی. دا کتابچه په دوه حصو ویشل شوې ده. تاسو

سره به د لارښووني کتاب په هره موضوع کې مرسته وکړي چې څنګه باید دې هر یو ته جواب ورکړی.
د خپلو سوالونو د جوابونو صفحې د ای. سی. ای. د دفتر د هدایاتو څخه متابعت وکړی.

## د مؤلف په باره کې معلومات

لوئیس جیتر واکر د خپل ژوند ډیره برخه د نړی د ټولو خلکو په خدمت او د هغوی د روحاني اړتیاوو د پوره کولو لپاره وقف کړیده. هغې خپل عالي تحصیلات د مسیحي الهیاتو په رشته کې سرته رسولي دي، د لیسانس او حتیٰ د هغې څخه د عالي تحصیلاتو د شهادت نامې په لاس ته راوړلو کې کامیابه شویده. د هغې کتابونه د هغې د څلویښت کالو خدمت په ګوته کوي. هغه خدمت چې د پیرو څخه پیل او د هغه خدمت لمنې تر کیوبا او غربي هند او بلجیم پورې رسیدلي دي. لوئیس جیتر واکر ۱۴ کتابونه او نور داسې کوچنۍ رسالۍ چې د مسیحي الهیاتو او د زیري څخه ډک دي، لیکلي دي.
دا کتاب کوم چې ستاسو په لاس کې دئ د ای. سی. ای. کارکونکو د مؤلف په مرسته او د زده کولو په نوو طریقو وکولای شول چې ځینې موضوعات په ښائسته صرف نحوي سره ستاسو په واک او اختیار کې

وسپاري. ستاسو لپاره دا کتاب د ټولو څخه مهم کتاب دئ چې د تاريخ په اوږدو کې ليکل شوئ، يعني چې د مقدس کتاب په نوم يادېږی.

تاسو اوس د لمړي لوست د مطالعه کولو لپاره تيار ياست. تاسو ته دې خدای هم د مطالعې په وخت کې برکت درکړي.

لومړی لوست

## لوست د مقدس کتاب د لوستلو ګټې

څو کاله مخکې یو بې خدایه سړي د یوې ښائسته جزیرې "آقیانوس آرام" په خوا کې د خپلې کشتۍ نه لنګر واچولو. هغه دا خبره اوریدلې وه چې د هغې جزیرې اوسیدونکي چې پخوا آدم خواره وو، خو اوس هغوی، هغه ناوړه سلوک پریښئ او د تجارت سره مینه لري.

کله چې بې خدایه د دې جزیرې د مشر سره خبرې کولې، نو هغه ولیدل چې د دې جزیرې د مشر په لاس کې یو غټ مقدس کتاب دئ. بې خدایه مسکی شو او د قبیلې مشر ته ئې وویل: " تاسو په ریښتیا سره پدې زوړ او پخواني کتاب باندې عقیده نلرۍ. او تاسو ته کومه ګټه هم نلري. " د قبیلې رئیس د خپلو جنګیالو سره چې د هغه خوا ته را ټول شوي وو، ولیدل او په آرام سره ئې بې خدایه ته وویل: "امکان لري چې ستاسو په نظر کې دا کتاب کومه ګټه نلري، خو په کار ده چې تاسو پرې خپل ځان پوه کړۍ که چیرې د نورو لپاره ګټور نه وي، نو ستاسو لپاره به څه نا څه ګټور وي. ځکه چې دې کتاب خو زمونږ ژوند بدل کړئ دئ که د

دي کتاب ګڼي نه وای اوس به تاسو هم زمونږ په دیګونو کې پاخه شوي وای!"

د مقدس کتاب مطالعه چې د یو نفر په ژوند کې کوم اثر لري، د نورو په ژوند هم تاثیر کوي. هغه بې خدایه سړي یعنی د بیړي خاوند چې د هغه په باره کې مو مخکې بحث وکړ د قبیلي د رئیس د مطالعې څخه یې ګټه واخیستله. په دې درس کې مو زده کړل چې تاسو باید څنګه د مقدس کتاب څخه فایده واخلئ.

## تاسو به په دې لوست کې ولولئ چې

- ولی مقدس کتاب مطالعه کوو؟
- د مقدس کتاب له مطالعې څخه څه ګټه ده؟

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو چې

.......

- تشریح کړئ چې ولې باید هر څوک مقدس کتاب مطالعه کړي؟
- د مقدس کتاب د لوستلو ګټې ولیکئ.
- په ترتیب سره د مقدس کتاب د لوستلو اهمیت درک کړئ.

## ولې باید مقدس کتاب مطالعه کړو؟

مونږ په دې برخه کې کولای شو چې د ډیرو دلایلو ځینی کار واخلو. خو راځئ چې د دې دلیلونو څخه په دریو باندې غور وکړو: ۱- د مقدس کتاب لوستل هغه سر لوري دئ چې مونږ ته رابښل شوئ دئ. ۲- د مقدس کتاب لوستل زمونږ روحاني غتوالي لپاره یوه طریقه ده او ۳- د مقدس کتاب لوستل هغه طریقه او د خدای په هغه نقشه باندې تلل او عمل کول دي چې هغه ئې زمونږ لپاره لري.

## د مقدس کتاب لوستل یو افتخار دئ

یوه ورځ زما دوه دوستانو ته یو لیک راغئ. په هغه لیک کې د هغوی څخه دا غوښتنه شوي وه چې هغوی باید د شاهزاده لیدلو ته لاړ شي. دا ډول لیک یعني د یو مهم شخصیت لخوا په خپله یو لوي افتخار وي، خو هغه څه چې په لیک کې وو هغه هم ډیر اهمیت درلود، ځکه چې د شاهي کورنۍ سره د لیدلو کتلو ذکر په کې شوئ وه.

مونږ او تاسو هم ډیر مهم لیک د یو لوي او مهم شخص له خوا چې په مخ د مځکی د هغه څخه بل لوي پادشاه نشته لاس ته راوړئ دئ. یعني د خپل خدای څخه! مګر د لیک څخه مهم شئ دا دئ چې په هغې که زمونږ څخه بلنه شوې ده. په دې لیک کې چې مونږ ورته

مقدس کتاب وایو خدای زمونږ څخه بلنه کړي ده چې د هغه زامن شو او تر ابده پورې د هغه سره ژوند وکړو! خدای فرمایلي دي چې هر کله چې مونږ د هغه زوي عیسی مسیح د خپل خلاصونکی په صفت ومنو، نو په هغه کې د هغه د زامنو د جملې څخه شمیرل کیږو. آیا دا یو لوي او عالي افتخار نه دئ چې د مقدس کتاب د مطالعه کولو په وسیله مونږ د خدای په باره کې او د هغه د نورو زیاتو وعدو په باره کې معلومات لاس ته راوړو؟

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوۍ

په دې هر یوه برخه کې، سوالونه او تمرینونه به ستاسو مرسته وکړي چې هغه څه مو چې لوستلی دي، بیا تکرار او د عمل جامه ور واغوندي. د تمرینونو د سرته رسولو نه دمخه ځینې تشریحات ورکړ شویدي چې په غور سره ئې ولولۍ. هغه جوابونه چې اوږده دي او یا د ځینې درسونو د یادولو لپاره ښه دي د یاداشت د کتابچی څخه استفاده وکړۍ.

۱- د لاندې هرې یوې جملې تر څنګه یوه علامه ولیکۍ، کوم چې ستاسو نظر په صحیح توګه سره پوره کوي.

یو د لوي افتخارنو څخه ممکن د یو نفر په خپل ژوند کې چې ئې لاس ته راوړي، هغه د هغه زیری حاصلول دي چې د ..............طرفه وي.

الف- د یو هیواد پادشاه.
ب- د ټولو نه ښه ملګري.
ج- خدای.

۲- د لاندې جملو څخه کومه یوه په صحیح توګه دا ثابتوي چې د مقدس کتاب لوستل یو افتخار دئ؟ د صحیح جملې څخه دایره چاپیره کړی.

الف- مقدس کتاب د خدای لخوا خپلو زامنو ته یو شخصي لیک دئ.
ب- خدای غواړی چې ستاسو او خپل ځان په باره کې ډیر شیان وفرمایې.
ج- د راهنما د کتاب د مؤلف عقیده دا ده.

خپل جوابونه د هغه جوابونو سره چې د لوست په آخر کې راغلی دي مقایسه کړی.

## د غتهوالي طریقه

هغه ماشومان د دې لپاره چې روغ رمټ واوسي، باید چې خپل طبیعی غتهوالئ ولري. د غتهوالی لپاره مناسب او ښه خوراک ضروري دی. مقدس کتاب باور

لري چې مونږ هم د خدای د زامنو په صفت په روحاني ژوند کې وده وکړو. په افسیانو **۴**: **۱۵** کې لولو "بلکه مونږ ته په مینه کې حقیقت ویل په کار دي او د مسیح په شان جوړیدلو سره په مخه تلل، چې هغه د بدن سر دئ." مقدس کتاب زمونږ روحاني خوراک دئ چې د مطالعې په وخت کې خپل خلاصونکی عیسی مسیح په صحیح توګه وپیژنو. همدا پیژندل دي چې له مونږ سره مرسته کوي تر څو په روح کې وده وکړو او په ربښتینو مسیحیانو بدل شو.

"تر څو چې مونږ ټول په ایمان راوړلو کې یو شو او د خدای زوی په ښه شان وپیژنو. دغسې به مونږ په ایمان کې بالغان شو، یعني د مسیح په شان به کامل شو، د دې د پاره چې مونږ نور وړاندې ماشومان پاتې نه شو او د خلکو د چل ول او مکارۍ په تعلیم لکه چپو دیخوا اخوا نه ګرزو. داسې تعلیم ور کوونکی د خپلو منصوبو په وجه خلک ګمراه کوي" (افسیان **۴**: **۱۳**-**۱۴**).

## هغه څه چې باید تاسو یې سره ته ورسوۍ

**۳**- هغه دوه جوابونه انتخاب کړۍ چې زمونږ جملې په ښه توګه پوره کوي.

د مقدس کتاب مطالعه د ايماندار د لوئيدو سبب کيږي ځکه چې:

الف- په دې وسيلې سره د روحاني خوراک نه خبريږي.

ب- په دې وسيلې سره د عيسیٰ مسيح په باره کې ډيره پيژند ګلوي حاصلوی.

ج- هغه پيژندل چې د مقدس کتاب نه حاصلوی، هغه په کليسا کې په يو اهم شخص بدلوي.

لاندې آيات حفظ کړی، او په داسې طريقې سره ئې تکرار کړی چې په پوره ډول د عيسی مسيح سره وعده کوي:

"ای مالکه ته مبارک يئ، خپل حکمونه ماته رازده کړه. زه ستا په وصيتونو فکر کوم او ستا په طريقو به پام وکړم. ستا په فرمانونو کې به خوښ اوسم او ستا کلام به هير نه کړم." (زبوز **۱۱۹**: **۱۲**، **۱۵- ۱٦**)

## د زده کړي هغه نقشه چې خدای يې زمونږ لپاره لري

ځو کاله دمخه يو زما له ملګرو نه ناروغه شوه. هغه نه يوازي ناروغه وه بلکه د غم او غصي احساس ئې هم کاوۀ. په هغه وخت کې هغې ته د يو ځوان سړي څخه يو ليک راغئ چې په کې د واده ذکر وو. په دې ليک هغه

خپله مینه څرګنده کړې وه چې هغه به زر راشي او له دې سره به واده وکړي. کله چې هغې داسې لیک ومونډ ، نو هغه پوه شوه چې یو څوک د هغې په فکر کې دئ، نو زما په ملګرۍ باندې ئې ډېره زیاته اغیزه وکړه، نو بیا ډېر زر د ناروغۍ نه جوړه شوه او له کټ څخه پاڅیده.

مقدس کتاب هم لکه د دې لیک غوندې کتاب دئ چې په کې د مینې ذکر شوئ دئ، نو خدای هم مونږ سره دا ډول مینه کوي او په مقدس کتاب کې خپله مینه مونږ ته تشریح کوي. مالک خدای مونږ ته په مقدس کتاب کې درس راکوي چې څنګه ژوند باید وکړو او هغه مونږ ته ورسره ورسره د ابدي ژوند وعده هم راکوي!

که چیرې مونږ ستړي یا غمجن یو، او یا نوره ناراحتي لرو، نو ښه دا ده چې د خدای شخصي پیغام ته مراجعه وکړو او هغه نقشه مطالعه کړو چې په آینده کې ئې زمونږ لپاره لري. دا لوستل به زمونږ سره مرسته وکړي تر څو ګټور شو. او په همدې ډول مونږ ته ډاډ او اطمینان راکوي چې مونږ هر یو د خپل خدای په وړاندې ډېر اهمیت لرو.

د مقدس کتاب د لوستلو څخه نه یوازې دا چې د هغې نقشې څخه چې خدای ئې زمونږ د راتلونکي ژوند

لپاره لري خبرېږو، بلکه د هغو وعدو څخه هم چې زمونږ د اوسني ژوند لپاره ئې لري، خبرېږو. په راتلونکو درسونو کې به دا وعدې ولولو.

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوۍ

**۴**- د هرې هغې جملې تر خوا یوه علامه ولیکۍ کومه چې په ښه توګه سره ستاسو د نظر په مطابق جمله پوره کوي.

د هغه نقشو په باره کې کوم چې خدای ئې زمونږ لپاره لري، خبریدل مهم دي ځکه چې:

الف- دا نقشه د هغې وعدې څخه معموره ده چې زمونږ لپاره ده.
ب- مونږ ته ډاډ او امید رابخښي.
ج- مونږ ته دا را په ګوته کوي چې ځومره بې ارزښته او سپک یو.
ه- زمونږ ژوند ته یو اړخ رابخښي.

**۵**- د خپل یاداشت په کتابچې کې هغه آیات ولیکۍ چې د ۱۱۹ زبور څخه مو زده کړی دئ. دا آیات د دعا په وخت کې د خدای لپاره د شکر ګذاري په توګه استعمال کړۍ د دې لپاره چې مونږ له ئې خپل کلام راکړی دئ.

## د مقدس کتاب د لوستلو ځینې ګټې

مونږ پدې برخه کې د مقدس کتاب د لوستلو څخه اته ګټې انتخاب کړې دي او هغه تاسو ته تشریح کوو.

۱- زمونږ روح لپاره ډوډۍ ده.

۲- خوشالي.

۳- د خدای سره نژدیوالی.

۴- زړورتیا او تشویق.

۵- پایه او بنسټ.

۶- الهام.

۷- حقیقت.

۸- امنیت.

## زمونږ روح لپاره ډوډۍ

مقدس کتاب هغه خوراک دئ چې زمونږ روح ژوندۍ ساتی. د مقدس کتاب روزانه لوستل زمونږ روح او هم جسم ته سلامتي او قوت بخښي.

عیسی مسیح فرمائي: ((بنی آدم تش په ډوډۍ نۀ پائي خو هغه په هره هغه خبره پائي چې د خدای د خولې نه وځي)) (متی ۴: ۴).

## خوشالي

زمونږ ټول وجود د مقدس کتاب په لوستلو د رښتيني خوشالۍ نه معموره کيږي. لکه څنګه چې يو سړی د خپلو ملګرو په هکله په خوشحاله خبرونو خوشحاليږي، همدارنګه د مقدس کتاب په لوستلو سره مونږ د خدای د هغې مينې څخه خبريږو چې ئې مونږ سره لري نو د دې په اوريدلو سره ډير خوشحاليږو. تر دې چې کوم قانون او حکمونه په کې ليکل شوي دي هغه هم مونږ خوشحالوي. ځکه چې په دې پوهيږي چې دا ټول حکمونه زمونږ د ښيګڼې او نيکمرغۍ لپاره راليږل شوي دي.

زبور ۱۱۹: ۱۱۱ «زه ستا شاهدي خپل ابدي ميراث ګڼم، ځکه چې زما د زړۀ لپاره خوشحالي ده.»

## ۳- د خدای سره نژديوالۍ

هر کله چې مونږ د خدای کلام لولو، نو په هغه وخت کې دا احساسوو چې هغه مونږ سره ډير نژدې دئ. او مونږ ته مخامخ ولاړ دئ. او په شخصي ډول د هغه سره خبرې کوو. دا کار زمونږ لپاره يو لوي افتخار دئ.

## ۴- زړورتیا او تشویق

د خدای کلام د زړورتیا او تشویق څخه ډک دئ. خدای د خپلې مینې مثالونه مونږ ته راښودلي او راسره ئې وعده کړیده چې زمونږ ساتنه به کوي. د پطروس په کتاب کې یو آیات دئ چې د هغه یادول ډیره ګټه لري. "او خپل ټول فکر په هغهٔ واچوی، ځکه چې هغه ستاسو خیال لري" (اول پطروس **۵**: **۷**).

## ۵- بنسټ او بنیاد

بنسټ او بنیاد هغه شئ دئ چې د هغه په سر باندې بل شی آبادیږی. عیسی مسیح وویل چې د هغه کلام زمونږ د ژوند او عقیدی لپاره یو مضبوط او مطمئین بنیاد دئ. هغه څوک چې ایمان نلري او د خدای کلام په بې پروائي سره لولي، نو د هغه مثال د هغه کور په شان دئ چې بنسټ او بنیاد نلري.

## ۶- الهام

خدای د خپل الهامی کلام په واسطه ایمان د خلاصون لپاره، امید د آینده لپاره، مینه او محبت د نورو انسانانو لپاره دی. الهام هغه قدرت دئ چې مونږ د ښو فکرونو او عملونو په لور لار ښوونه کوي.

ډیرو شاعرانو، هنرمندانو، موسیقی پوهانو، د مقدس کتاب څخه خپل الهام اخیستئ دئ. مقدس کتاب ښه او ښائسته فکرونه او خیالونه د شعر، سرود او رسامی او داسې نورو هنرونو په باره کې دوی ته ورکړی دئ.

## ۷- حقیقت او رښتیا

هغه حقیقت چې په مقدس کتاب کې وینو زمونږ سوالونو ته جواب ورکوي، او زمونږ ژوند ته یو هدف او معنی وربښی. دا حقیقت مونږ د جهالت او ناپوهی د دام نه خلاصوي. "او تاسو به په حقیقت پوهه شئ او حقیقت به تاسو آزاد کړي." (یوحنا ۸: ۳۲)

## ۸- امن او سلامتیا

امن او امنیت نه یوائې د خطرو څخه ګوښه کول دي بلکه د آینده په باره کې درک او چمتوالئ هم دئ. هر کله چې د خدای کلام مونږ د مسیح امنیت او په هغه کې اوسیدلو لپاره د آسمان په لور هدایت کوي، په حقیقت کې به په سلامتیا او امن کې ژوند ولرو. د خدای کلام د ګناه او د شیطان په ضد زمونږ "توره او سپر" دئ. خو په دې شرط سره چې هغه په منظمه او مسلسله توګه ولولو.

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۶- په خپلې کتابچې کې د مقدس کتاب هغه اته ګټې ولیکئ کومې چې تاسو ته وښولي شوي. آیا تاسو د مقدس کتاب د مطالعې څخه نورې نوي ګټې لاس ته راوړي دي؟ که چیرې داسې وي، نو په دې لست کې یې ولیکئ.

۷- لاندې تشریحاتو ته د هغوی صحیح ګټو ته په لاندې شمارو کې صحیح، شمارې سره ربط ورکړئ.

الف- هغه خوراک دئ چې مونږ ته طاقت راکوي.

ب- خدای تعالی تل له مونږ سره دئ.

ج- خدای زمونږ ساتنه کوي.

د- د مقدس کتاب خوشاله زیرئ مونږ ته خوشالي رابښي.

ه- زمونږ ژوند د خدای د کلام په بنسټ باندې ولاړ دئ.

و- مونږ څه اوس او څه په راتلونکي کې په امن کې ژوند کوو.

ز- ښې مفکورې لاس ته راوړلو او د هغو په بنیاد ورباندې فکر او عمل کوو.

س- مونږ د جهالت او خطا نه خلاصون لاس ته راوړو.

۱- امن او سلامتیا
۲- حقیقت
۳- الهام
۴- بنسټ او بنیاد
۵- زړورتیا او تشویق
۶- د خدای سره نژدیوالئ
۷- خوشالي
۸- زمونږ د روح لپار خوراک

## خپل جوابونه مقایسه کړی

د دې لوست جوابونه په منظمه توګه نه دې لیکل شوي. نو په دې صورت کې به تاسو نه شی کولای چې د وروستی سوال جواب مقایسه کړئ. یواځې د هغه جوابونو په فکر کې اوسی چې تاسو ته د قبلولو وړ وي، کوشش وکړی چې د وروستنیو جوابونو په فکر کې نه شی.

۱- ج) خدای

۵- امید لرم چې دا آیات به مو حفظ کړی وي او د دعا کولو په وخت کې به یې د خدای په وړاندې پیش کوی.
۲- الف) مقدس کتاب د خدای لخوا خپلو ټولو بچو ته یو شخصی لیک دئ.

ب- خدای غواړي چې ستاسو او د خپل ځان په باره کې ډېر شیان تاسو ته ووایي.

۲- زمونږ روح لپاره خوراک
خوشالي
د خدای سره نژدیوالئ
زړورتیا او تشویق
بنسټ، الهام
حقیقت، امنیت

(تاسو کولای شئ چې هغه فایدې چې په دې درس کې یې ذکر وشو په دې کې زیاتې کړئ. یعني محبت، امید ، روحاني غتوالئ او د تل ژوند).

۳- الف- په دې ډول د روحاني خوراک څخه خبریږی.
ب- په دې ډول سره به تاسو د عیسی مسیح په باره کې زیات معلومات لاس ته راوړئ.

۷- الف- ۸- روحانی ډوډئ
ب- ۲- د خدای سره نژدیوالئ
ج- ۵- زړورتیا او تشویق
د- ۷- خوشالی
ه- ۴- بنسټ او بنیاد
و- ۱- امنیت
ز- ۳- الهام

س- ۲- حقيقت

۴- الف- دا نقشي زمونږ لپاره د وعدو څخه ډکې دي.
ب- مونږ ته زړورتيا او اميد رابښی
د- هغه محبت چې خدای له مونږ سره لري رابښکاره کوي.
ه- زمونږ ژوندون په يو جهت وربخښی.

دویم لوست

## لوست هغه کتاب چه خدای مونږ ته راکړی دئ

آیا تر اوسه پورې تاسو په دې فکر کړئ دئ چې خدای تعالی مونږ ته مقدس کتاب څنګه رابښلی دئ؟ آیا فرښتو دا کتابونه په ترتیب سره په ګوښه کې ایښی وه چې څوک به دا پیدا کړی؟ او یا دا چې یو کس خپل ټول عمر په لوستلو او تحقیق کې تیر کړی او آخر دا چې په دې طریقې سره به ئې خپله فلسفه بیان کړې وي؟

خدای تعالی هیڅ یوه لار د دوی څخه نه ده ټاکلې تر څو چې خپل کلام ئې مونږ ته په دې طریقو سره رارسولئ وي. مګر په سلګونو کلونو کې خدای د هرې فرقې خلکو څخه کار واخیست تر څو مونږ هغه کتاب چې ورته مقدس کتاب وایو راکړي. د مقدس کتاب ترتیب او یوالي برسیره پر دې چې مختلو مؤلفینو او لیکوالانو په مختلفو زمانو کې لیکلئ دئ، خو بیا هم یو خدای ته اشاره کوي چې هیڅ تغیر او تبدیل نه لري.

د مقدس کتاب لیکل یوه معجزه ده او د هغې ساتنه بله معجزه ده. د یو نبي په باره کې لیکل شوي دي چې یو پادشاه د هغه د نبوت کتاب واخیست او وئې سوزاوه، مګر خدای هغه ته امر وکړ چې قلم دیوات

راوخله او هغه کتاب بیا د سره ولیکه (یرمیا **۲۳: ۲۷-۲۸**). د خدای کلام هیڅوک له منځه نشي وړئ.

په دې لوست کې به د مقدس کتاب په هکله ځینې څیړنې وکړو چې هغه چا ولیکلو او یوه برخه ئې د بلې برخې سره څه اړیکې لري او څنګه د ټولو کتابونو غرضونه زمونږ پورې ارتباط او اړه لري. په دې برخه کې چې هر څومره زیات وپوهیږو په هم هغه اندازه د مقدس کتاب اهمیت زیاتیږی، تر څو چې خپله مطالعه په دې باره کې نوره هم زیاته کړو.

## تاسو به په دې درس کې ولولۍ....

د مقدس کتاب هدف او منشا
د مقدس کتاب یو ځای کیدل
د مقدس کتاب رنګارنګ ترجمې

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو چې....

- د مقدس کتاب هدف او چوکاټ تشریح کړئ.
- او پدې پوه شی چې نوي عهد د زوړ عهد سره اړیکې لري.
- او په دې وپوهیږۍ چې مقدس کتاب درک کولو څنګه او ولې د ټولو ضرورت دئ.

# د مقدس کتاب هدف او غرض

## تعریف او تقسیمات

په حقیقت کې مقدس کتاب یوه وړه کتابخانه ده چې مجموعاً ۶۶ کتابونه لري. او د خدای لخوا انسانانو ته ورکړ شوئ دئ چې مونږ هغه ته د خدای کلام یا مقدس کتاب وایو.

په انګلیسې ژبه کې د بابیل لغوي معنیٰ یعني "کتابونه" او هولي یعني مقدس "هغه څه چې مونږ ورته احترام لرو او د خدای لخوا نازل شوي وي." د مقدس کتاب ټول ۶۶ کتابونه مقدس او پاک دي.

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

په لاندې تمرین کې د ټولو نه ښه جواب انتخاب کړئ.

۱- په مقدس کتاب کې څو کتابونه دي؟

الف- ۲۹
ب- ۳۹
ج- ۶۶
د- ۷۴

۲- خدای خپل کلام باندې مقدس کتاب نوم کیښود.

مقدس یعني:
الف- د مقدسو خلکو کتاب

ب- هغه کتاب چې د دوه زړو کتابونو څخه جوړ شوئ دئ.

ج- هغه کتاب چې د خدای له خوا نازل شوئ دئ او مونږ د هغه ډیر احترام کوو ځکه چې هغه د خدای کلام دئ.

## لیکوال او الهام

خدای د مقدس کتاب لیکلو لپاره تقریباً ۴۰ کسانو ته الهام ورکړ. د دې کسانو له جملې څخه ځینو له یو کتاب څخه ډیر کتابونه ولیکل. بعضې له دې کتابونه نه خپلو لیکوالو امضا کړي دي، او ځینې نه دي دستخط شوي او په همدې وجه نه پوهیږو چې د هغوی لیکوال څوک وو.

هر کله چې وایو چې ځلوېښت کسانو ته الهام ورکړ شو، نو مقصد دا دئ چې روح القدس د مقدس کتاب لیکوالو ته هغه فکر او کلام ورکړ کوم چې خدای غوښتل چې هغوی ئې ولیکي. مقدس کتاب د تیموتیوس په خط ۳: ۱۶ کې وایې چې ټول مقدس کتاب د الهام په وسیله لیکل شوئ دئ. د مقدس کتاب لیکونکو یو بل سره صلاح مصلحت نشو کولای، ځکه چې دوی په یو وخت او زمانه کې نه اوسیدل. د مقدس کتاب اول کتاب د مسیح له

پیدا ینبت څخه **۱۵۰۰** کاله مخکې لیکل شوئ وو. او آخري کتاب ئې د مسیح څخه ۱۰۰ کاله وروسته ولیکل شو، نو پدې خاطر چې دا ټول کتابونه د الهام په وسیله ولیکل شو نو کولای شو چې ورته مقدس ووایو.

د مقدس کتاب په لیکوالو کې د هرې طبقې خلک پیدا کولای شو: د مثال په توګه پادشاهان، ماهیګران، کار کونکي، سیاستمدار، مذهبي ډاکټران او نظامي رهبران، دهقانان، تجاران او شاعران. که څه هم چې لیکوالان د مختلفو ځایونو او کارونو خلک وو خو بیا هم د دوی د کتابونو موضوع یوه وه، ځکه چې خدای دوی ته الهام ورکړی وو. دغه مشترکه موضوع د خدای او د انسان تر منځ اړیکې څرګنده وي.

داسې نظم او ترتیب یوازې په مقدس کتاب کې لیدلی شو. ځکه چې د هغوی مؤلف خدای دئ چې د مختلفو انسانانو په وسیله خبرې او کلام کوي.

دا لاندې آیات حفظ کړې:

"ځکه چې د نبیانو د کلام هیڅ خبره هم د بني آدمو د خواهش په مطابق کله هم نۀ ده شوي، بلکه بني آدمو د روح القدس د اثر په وجه د خدای د طرفه خبرې کولې. " (دویم پطروس ۱: ۲۱)

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

د لاندې دوه موضوعاتو څخه هغه موضوع په نښه کړی کومه چې زمونږ سوالونو ته صحیح او پوره جواب ور کوي.

هر کله چې مونږ د دې خبرې یادونه کوو چې مقدس کتاب د خدای الهام دئ، نو زمونږ مقصد دا دئ چې روح القدس د دې لیکوالان د خپل اثر لاندې راوستل ترڅو چې....

الف- د هغه څه په هکله چې هغوی غوښتل چې وئې لیکی یو له بل سره ئې مشوره کوله.

ب- د خدای فکر او کلام ولیکی.

۴- د مقدس کتاب د اول کتاب د لیکلو او د وروستی کتاب تر منځ څومره فاصله موجوده ده؟

الف- تقریباً ۵۰ کاله

ب- تقریباً ۵۰۰ کاله

ج- تقریباً ۱۲۰۰ کاله

۵- خدای د مقدس کتاب لیکلو لپاره څومره کسانو ته الهام وربخښلئ وو؟

الف- ۴۰ کسانو ته چې د یو بل سره به ئې مرسته کوله.

ب- ۴۰ نبیانو او کاهنانو ته.

ج- ۲۲ کسانو ته چې د مختلفو ځایونو څخه وو.
د- تقریباً ۴۰ کسان چې په مختلفو زمانو کې اوسیدل او مختلفې وظیفې ئې درلودې.

۲- دې کسانو ټولو په یوه خاصه او شریکه موضوع باندې خپل کتابونه ولیکل ولیکل د هغوی متنونه د یو بل سره هیڅ تنقیض او توپیر ندرلود.

ځکه چې:

الف- حقیقی مؤلف یې خدای وو او هغوی د کتاب لیکلو په وخت کې د روح القدس د کنترول لاندې وو.
ب- د هغوی څخه هر یو خپل د لیکلو طریقه بل ته پریښوده.

خپل جوابونه مقایسه کړۍ

## پوره او مکمل مقدس کتاب

هر کله چې دوه نفره یا هیوادونه وغواړي چې د یو موضوع په باره کې په خپل منځ کې موافقه وکړي او قرارداد لاس لیک کړي، نو کولای شي چې د تعهدنامې څخه استفاده وکړي. دا معاهده پس له لاس لیک څخه دواړه خواوي مجبوره وي چې د دې

معاهدې شرايط مراعات کړي او د هغو نه سر غړونه ونه کړي.

عهد، قرارداد يا معاهدې ته وايي. مقدس کتاب په دوه عهدونو او معاهدو تقسيم شوئ دئ چې زوړ عهد او نوی عهد بلل کيږي. زوړ عهد او نوي عهد هغه معاهده ده چې خدای د انسانانو سره کړې ده.

د مقدس کتاب په لمړۍ صفحه کې د مقدس کتاب نوم سره شماری ورکړ شوي دي. تاسو وينۍ چې زوړ عهد د نوي عهد څخه دمخه راغلئ دئ او نوی عهد وروسته راغلئ دئ. زوړ عهد يهوديانو ته چې عبرانيان او يا بني اسرائيل هم بللي شي، ورکړای شو.

خدای دا قوم غوره کړو چې مقدس کتاب ولري او ويې ليکۍ او نورو خلکو ته يې درس ورکړي. زوړ عهد په عبراني ژبه وليکل شو ځکه چې عبراني ژبه د يهودو قومي ژبه وه.

په زوړ عهد کې د خدای او د انسان په منځ کې د اړيکو تاريخ د دنيا د پيدايښت څخه تر عيسی مسيح د راتلو پورې شامل دئ، تر څو چې هغه نوي عهد د خدای سره لاس ليک کړي.

نوي عهد نوي شرطونه او تاريخ هغه چا ته وربښی چې په عيسی مسيح ايمان ولري. نوي عهد يا «انجيل

شریف) د عیسی مسیح د ژوند قصه او د هغه خبرې او تعلیم بیانوي.
کله چې نوي عهد لیکل کیدو په هغه وخت کې یوناني ژبه یوه شریکه او حاکمه ژبه وه. نو په داسې حال کې چې د نوي عهد معاهدي یوازې د یهودیانو لپاره نه وي او د دنیا د ټولو خلکو لپاره وي. نو نوې عهد په یوناني ژبه ولیکل شو او دا عمل د دې سبب وګرځید چې زیات خلک یې ولولي.

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

په لاندې جوابونو کې هغه جواب انتخاب کړئ چې ستاسو په نظر صحیح وي. نهم سوال د یو څخه ډیر صحیح جوابونه لري.

د زوړ عهد د حاصلولو او د خدای د معاهدي او مکاشفي د معلومولو لپاره څوک وټاکلي شو؟
الف- عبرانیان (بنی اسرائیل)

ب- مسیحیان
ج- یونانیان

۸- خدای هغه کسانو سره چې عیسی مسیح د خپل خلاصونکي په حیث قبلوي، وعده وکړه. د دې معاهدي شرطونه او څرنګوالي په لاندې جوابونو کې په کوم ځای کې پیدا کولای شو؟

الف- زوړ عهد کې
ب- په نوي عهد کې

۹- زوړ عهد د نوي عهد سره توپیر لري د دې لپاره چې

الف- زوړ عهد په عبراني لیکل شوي دی نه په یوناني.
ب- په زوړ عهد کې ډیر کتابونه شامل دی.
ج- زوړ عهد یوازي د یهویانو لپاره ولیکل شو.
د- د زوړ عهد لیکوال هغه کسان نه دي چې نوئ عهد ئې ولیکلو.

ه- د تاریخ د مختلفو حالاتو تشریح کوي.

خپل جوابونه مقایسه کړی.

## د دواړو عهدونو تر منځ اړیکې

زوړ عهد د ډیر خاص اهمیت څخه ډک دئ ځکه چې هغه نقشه چې خدای ئې د انسانانو لپاره لري، څرګندوي. مګر زوړ عهد تر ابدې او ښې معاهدي د راتلو پورې. د څه وخت نه چې مونږ د نوي معاهدې د شرایطو لاندې ژوند تیروو نو تاسو نه دا خواست کوو چې دا معاهده (انجیل شریف) د سر نه بیا ولولی.

نوي عهد په زوړ عهد باندې استوار دئ. نوې عهد نه يوائې دا چې د دواړو معاهدو تر منځ اړيکې تشريح کوي، مګر دا هم چې هغه پيشګوياني او نبوتونه په کې ليدلي شو چې په زوړ عهد کې شوي دي.

د مثال په توګه د ميکا په کتاب **۵**: **۲** آيات کې لولو چې وعده شوي خلاصوونکي به د يهوديه په بيت الحم کې پيدا کيږي. او په نوې عهد متی ۲ : ۱ کې وايي چې وعده شوي خلاصوونکئ په بيت الحم کې پيدا شو.

په زوړ عهد ، زبور **۲۲** : **۱۸** کې وايې چې انسانان به د وعده شوي خلاصونکي په جامو باندې هسک واچوي. نو کله چې عيسی په صليب باندې خپل ځان قربانولو، نو سپاهيانو د هغه په جامو هسک واچولو. متی **۲۷**: **۳۵** آيات فرمائي: "او چې کله ئې دئ په سولئ وخيژولو نو د هغۀ جامې يې په خپلو کې په هسک وويشلي."

په دې هکله د دې په شان په سلګونو مثالونه پيدا کيږي. داسې کتابونه ليکل شوي دي چې د زوړ عهد نبوتونه چې په نوې عهد کې پوره شوي دي د هغوی د حوالو بيان کوي.

په دې هکله د دې په شان په سلګونو مثالونه پيدا کيږي. داسې کتابونه ليکل شوي دي چې د زوړ عهد

نبوتونه چې په نوي عهد کې پوره شوي دي د هغوی د حوالو بیان کوي.

دا یوه حیرانونکي خبره ده چې زوړ عهد په تیرو پیړیو کې په مسلسل ډول سره بلکل ټول صحیح سلامت پاتی شوئ دئ. مونږ باید د خدای د غوره شو شکر ګذاره اوسو ځکه چې هغوی نه یوازي دا چې د خدای کلام ومومند بلکه هغه یې هم وساته او نورو هیوادونو ته یې ورساوه او په دې مذهب کې یې شامل کړل.

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوۍ

۱۰-د لاندې صحیح جملو تر خوا د (ص) علامه ولیکۍ.

الف- کوم زوړ عهد چې د یهودیانو ته ورکړ شوئ دئ، نو دا ضرور نه ده چې مونږ هغه ولولو.

ب- نوئ عهد هغه معاهده ده چې خدای د خپل قوم سره کړیده،مګر زوړ عهد هم ښه درسونه زمونږ لپاره لري.

ج- زوړ عهد او نوئ عهد دواړه الهی کشفونه دي. هغه نقشه چې خدای ئې د انسانانو د خلاصون لپاره لري ښکاره کوي.

۱۱- هغه مقدس کتاب چې نن مونږ سره دئ د چا شکر ګذاره اوسو؟

۱۲- د زوړ عهد هغه ټول نبوتونه چې په نوي عهد کې پوره شوي دي ورته د یو بل سره اړیکې ورکړی.

الف- دویم سموئیل **۷**: **۱۳** د داود نسل، ابدي پادشاه

ب- پیدایښت **۴۹**: **۱۰** د یهودا پادشاه د نسل څخه

ج- زبور **۱۱۰**: **۴** د ملک صدِق په شان کاهن

د- یشعیاه **۴۵**: **۳** یحیی، د خدای آواز کوونکئ، "د خدای لار تیاره کړی"

و- یشعیاه **۷**: **۱۴** د هغه نوم عمانوئیل دئ

ز- زکریا **۹**: **۹** په خر باندې سپور او بیت المقدس ته روان

س- زکریا **۱۱**: **۱۲** په دیرش د سپینو زرو په سکو خرڅ شو

ش- یشعیاه **۵۳**: د مالداره سړي په قبر کې ښخول

۱- مکاشفه **۵**: **۵**

۲- متی **۲۱**: **۴**

۳- لوقا **۱**: **۱۷**

۴- متی **۲۲**: **۱۵**

۵- لوقا **۲۳**: **۵۰**- **۵۱**

۶- متی **۱**: **۱**

۷- متی **۱**: **۲۳**

۸- عبرانیان ۵: ۲
۹-لوقا ۱: ۳۱

## د مقدس کتاب مختلفې ترجمې

### مختلفې ژبې

خدای دا غواړي چې ټول انسانان د هغه زوي عیسی مسیح د خپل خلاصوونکي په صفت قبول کړي (۲ پطروس ۳: ۹). نو لکه څنګه چې خدای په خپله په دې امر ور کولو راضي دئ، ځکه چې هغه غواړی چې ټول خلک د هغه په الهي کلام باندې پوه شي. همدا دلیل دئ چې زوړ عهد د یهودو د قوم لپاره په عبرانې ژبه کې ولیکل شو، مګر نوئ عهد (انجیل) د ټولې دنیا لپاره په یونانې ژبه کې ولیکل شو.
د دې لپاره چې زمونږ او ستاسو نه ډیر په عبرانې او یونانې ژبو باندې نه پوهیږي. که چیرې نن مقدس کتاب په هغه ژبه باندې ترجمه شوي نه وای په کومو چې مونږ پوهیږو، نو د هغه په درک او فهم کې به مونږ د ستونځو او ربړونو سره مخامخ شوي وو. هر کله چې هغه ژبه باندې چې مونږ پرې نه پوهیږو کیدای شي چې په ډیر ساده او بسیط ځایونو کې زمونږ نه په کې اشتباه منځ ته راشي. نو له همدې کبله مونږ مقدس

کتاب مطالعه کوو، تعلیم ورکوو، ترجمه کوو يې او د خلکو په منځ کې يې نشر کوو. د مقدس کتاب روحاني ګروپونه د نوې ترجمې په کوشش کې دي. مقدس کتاب په اوسني وخت کې په د دنیا په ۱۳۰۰ مختلفو ژبو ترجمه شوئ دئ.

هر کله چې یوه نوې ترجمه سر ته رسيږي، نو ټول د حد نه زيات خوشحاليږي، ځکه چې د نوې ترجمې سر ته رسيدل دا منعیٰ لري چې نور خلک به مقدس کتاب په خپله مورنۍ ژبه کې ولولي. ډيرى ژبې شته چې مقدس کتاب لا تر اوسه پرې نه دئ ترجمه شوي. راځئ چې هغه خلکو لپاره دعا وکړو چې د دې خدمت مسئوليت په غاړه لري چې خداى ورته په خپله مقدسه وظيفه کې برئ او برکت ورکړي.

## هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوۍ

۱۳- د لاندې هغه جوابونو تر خوا يوه علامه وليکۍ کوم چې ستاسو په نظر صحيح جواب وي.

دنيا د مقدس کتاب مختلفو ترجمو ته ضرورت لري ځکه چې:

الف- خداى غواړى چې ټول انسانان د هغه په کلام وپوهيږى.

ب- نن هم ډېر خلک په عبراني او یوناني ژبو باندې نه پوهیږي.

ج- هغه علم د دانش یا یو مطلب چې د انسان په خپله مورنۍ ژبه کې لیکل شوئ وي په هغه پوهیدل ډېر آسان وي.

**خپل جوابونه مقایسه کړۍ.**

## مختلفر ترجمې

په یوه ژبه کې تغیر او بدلون کله د دې خبرې سبب کیږي چې باید په هم هغه ژبه کې د نوې نه زیاتې ترجمې د مقدس کتاب، وجود ولري. کله چې ترجمې زړیږي، په هغه پوهیدل لږ غوندې سختیږي نو د نوې کیدو ضرورت یې رامنځ ته شي. هغه لغاتونه چې پخواني دي او په اوسنیو لغاتونو باندې تبدیل شوي دي، یعني هغه لغاتونو چې په ورځني ژوند کې استعمالیږي په نۆو ترجمو کې په کار وړل شوي دي.

د نوو ترجمو څخه دا مقصد او هدف نه دئ چې مونږ د انجیل شریف، یعني مقدس کتاب تعلیم او درسونو ته تغیر ور کړو. د مقدس کتاب زړي ترجمې (پروټستانت او کاتولیک) ټولې ترجمې په اساسي ډول سره یو مقدس کتاب دئ. ټولو ژباړونکو دا کوشش کړئ دئ

چې په خپلو ترجمو کې هماغه د عبرانې او یونانې اصل متن، مفهوم او معنیٰ خوندي وساتي.

د مقدس کتاب د انګلیسي په ترجمو کې د ټولو نه مشهوره ترجمه د "کینګ جیمز" ترجمه ده. دا ترجمه څو پیړۍ مخکې شوي ده خو نن په هغې پوهیدل لږ غوندې سخت دي.

ځینې خلکو ته د نوو ترجمو پوهیدل آسان دي او په ښه ډول د هغو څخه استفاده کولای شي او ځینی خلک پخوانۍ ترجمې خوښوي او د هغو نه په اسانتیا سره استفاده کولای شی.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

په دې تمرین کې چې هغه جملې چې په صحیح ډول زمونږ جملې تکمیلوي تر خوا ئې د (ص) علامه ولیکۍ.

۱۴- مونږ کولاۍ شو چې په انګلیسي ژبه کې ډیرې ترجمې ولرو ځکه چې ژباړونکي غواړي چې:

الف- ترجمې ئې د خپلو شخصي زده کړو په مطابق وي.

ب- په هغه ژبه بیانوي چې خلکو ته ئې پوهیدل آسان وي.

۱۵- کله چې مونږ د مقدس کتاب د ترجمو په باره کې خبرې کوو نو زمونږ مطلب دا دئ چې:

الف- د هغې څرنګوالی.
ب- د هغې ترجمه.
ج- د هغې مشکل او سخت لغاتونه

۱۲- دا احتمال لري چې د زمانې په تیریدو سره د مقدس کتاب ډیرې ترجمې په خپلو مورنیو ژبو کې ووینو ځکه چې....

الف- د مقدس کتاب نشر کوونکو غوښتل چې دولتمند شي.
ب- امکان لري چې د زمانې او وخت په تیریدو سره د لغاتو په معنیٰ او مفهوم کې تغیر راشي.

## اپو کریفا

د مقدس کتاب ځینې ترجمې د اپو کریفا د عنوان په نوم یادیږي. اپو کریفا هغه کتابونه دي چې د هغوی په مقاصدو او اصل منشا کې شک او تردید وجود لري. د دې لپاره چې ځینې د دې کتابونو څخه تاریخي پیښې بیانوي. خصوصاً د هغه ۴۰۰ کلنې فاصلې په هکله چې د زوړ عهد او د نوي عهد تر منځ موجوده ده.

نو له دې کبله نشو کولای چې دا ټول تاریخي بیانونه د اعتبار وړ ومنو.

دا کتابونه هیڅ قسم شاهدي د خپل الهام په باره کې نلري، نو په همدې دلیل سره یې د یهودو په مقدسو لیکنو کې چې زوړ عهد ئې تشکیل کړئ، ځان ونه نیولو.

د اپو کریفا په عنوان د هغه کتابونو مجموعه چې لیکل شویده یعني چې د یوناني لغت څخه اخیستل شوي چې معنیٰ ئې ده "پټ شیان ساتل".

دا کتابونه په داسې حالت کې لیکل شوي چې په هغې باندې پوهیدل آسانه او د انسانانو د عقل او پوهې څخه بهر دي. مګر د خدای کلام مونږ ته د دې لپاره راکړ شویدئ چې د هغې څخه ګټه لاس ته راوړو او پوره اطمینان ولرو. خدای غواړي چې ټول انسانان خلاصون ولري "او د حقیقت تر پیژندګلو ورسیږي." (اول تیموتیوس ۲: ۴).

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

په لاندې تمرینونو کې هغه جواب چې زمونږ جمله په ښه توګه پوره کوي تر خوا ئې د (ص) علامه ولیکئ.

۱۷- د اپو کریفا معنی یعني:

الف- "پټ شیان" ساتلی شوي

ب- "شکمن"

ج- "نیم تاریخ لرونکي"

۱۸- د مقدس کتاب ډیرې لیکنی په اپو کریفا کې شاملې نه دي ځکه چې دا لیکنې:

الف- د حد نه زیاتې اوږدې دي.

ب- د خپل الهام د دعوي په هکله شاهدان نلري.

ج- د ترجمې لپاره سختې دي.

خپل جوابونه مقایسه کړۍ

۱- ج- ۲۲

۱۰- الف- غلط

ب- صحیح

ج- صحیح

۲- ج- هغه کتاب چې د خدای له طرفه دئ او مونږ هغه کتاب ته ځکه احترام لرو چې هغه د خدای کلام دئ.

۱۱- د خدای د غوره شوو خلکو.

۳- ب- د خدای فکرونه او کلام ولیکۍ.

۱۲- الف- ۲- متی ۱: ۱

ب- ۱- مکاشفه **۵**: **۵**

ج- ۸- عبرانیان ۵: ۶

د - ۹- لوقا ۱: ۳۱

ه- ۳- لوقا ۱: ۱۷

و- ۷- متی ۱: ۲۳

ز- ۲- متی ۲۱: ۴

س- ۴- متی ۲۲: ۱۵

ش- ۵- لوقا ۲۳: ۵۰- ۵۱

۴- ج- د شپاړسوه ۱۲۰۰ کلونو په موده کې

۱۳- دغه درې واړه دلیلونه کولای شي چې د دې ضرورت وکړي.

۵- د- څلویښت کسانو په وسیله چې د مختلفه زمانو کې ژوند کاوه.

۱۴- ب- چې مقدس کتاب په هغه ژبه بیان کړی چې خلکو ته ئې پوهیدل آسان وي.

۶- الف- د هغه رښتینئ مؤلف خدای وو چې د لیکلو په وخت کې ئې هغوی د روح القدس د کنترول لاندې ساتل.

۱۵- ب- د هغه ترجمه.

۷- الف- عبرانیان (بنی اسرائیل)

۱۶- ب- ژبې او د لغاتو مفهوم او مقصد د زمانې په تیریدو سره تغیر مومي.

۸- ب- نوی عهد (انجیل)

۱۷- الف- "پټ ساتل شوي شیان"

۹- ټول جوابونه صحیح دي.

۱۸- ب- د خپل الهام د دعوې د پاره شاهدان نه لري.

# مونږ څنګه کولای شو چې په مقدس کتاب کې هغه شی پیدا کړو کوم چې غواړو

هیڅوک نشی کولای چې د خپلې آنا په پخلنځي کې څه شئ پیدا کړي. اوړه په یو لوښی کې وو چې په هغې باندې "بوره" لیکل شوي وه. او چای په داسې لوښی کې وو چې په هغې "مالګه" لیکل شوي وه. دا کار د هغې لپاره سخت نه وه ځکه چې آنا یواځنۍ څوک وه چې په دې آشپزخانه کې یې کار کاوه.
مګر په هغه بل کور کې ټول حالات او وضعیت بدل وو. په هر یو لوښي باندې خپل نوم لیکل شوئ وو، ځکه چې یواځې د کور ښځی په دې آشپزخانه کې کار نه کاوو. بلکه د هغې د خاوند دا وظیفه وه چې د سهار ناشته تیاره کړی او لورګانو به یې هم د ماښام لپاره خوراک تیار وو. نو پدې صورت کې د آشپزخانی لپاره یوه منظم او خاص قانون موجود وو.
مقدس کتاب باید داسې وي چې وکولای شو خپله لار د هغه ځینې حاصله کړو او خپل ضرورتونه ترې پوره کړو. د مقدس کتاب نشر کوونکي له دې مطلب نه خبر دي. نو په همدې ډول په ټولو ترجمو کې د یو شي د

پيدا کولو د آسانتيا لپاره په ترتيب سره بابونه، آياتونه په يو منظم ډول سره ليکل شوي دي.
داسې کتابونه هم شته دي چې لکه د فهرست په شان يعني چې کوم آيات مونږ وغواړو پيدا کړو راسره مرسته کوي. په دې لوست کې به د آياتونو ځای او د هغوی لوستل او ليکلو طريقه زده کړو او بله دا چې څنګه کولای شو چې د خپل نظر په مطابق آيات په لاس راوړو.

## په دې لوست کې به تاسو ولولې...

- د آيات ځای
- حوالې ته رجوع
- د آياتونو کشف

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړی تر څو...

- د آيات حواله يا ځای وليکې او ويې لولې او بيا يې پيدا کړې.
- په دې وپوهيږی چې څنګه کولائ شي چې د حوالو او کشف الايات ځينې کار واخلې.

# د آیاتونو ځای

## د آیاتونو لوستلو او لیکلو طریقه

د مقدس کتابونو هر یو کتاب په مختلفو بابونو ویشل شوئ دئ تر څو چې مونږ سره د هغې په لوستلو کې مرسته وکړی. هر یو باب په کوچنیو برخو تقسیم شوئ دئ چې د هغوی شماره د جملې په سر کې لیکل شوي وي. دغه کوچنیو برخو ته آیات وایې. هر کله چې وغواړو چې د کلام الله یوې برخې ته اشاره وکړو په شروع کې د کتاب نوم، بیا د باب نمره او پس له هغې څخه د آیات نمره وایو. دا ټول چې یو ځای شی نو ورته د مقدس کتاب د آیاتونو حواله ویلئ شی.

اوس د مقدس کتاب لمړنې کتاب یعني د پیدایښت کتاب ته پاملرنه وکړو. که تاسو سره چیرې ترجمه وي، نو د مقدمې نه یې تیر شۍ او لمړې باب را پیدا کړۍ.

اوس دا کوچنۍ نمره چې د هر یو خط په مقابل کې لیکل شوې ده ور پسې وګرځي د پیدایښت کتاب لمړې آیات داسې پیل کیږي. "په شروع کې خدای....." که چیرې وغواړي چې دې متن ته اشاره وکړۍ باید ووایې: "د پیدایښت لومړې باب او لومړې آیات" په همدې توګه د آیاتونو شماره ادامه پیدا کوي. اوس دوهم باب ته مراجعه کوو، دوهم باب لمړې په دې

طريقي سره پيل کيږي: "د آسمانو مځکې او د هغوی ټول لښکر تمام شو" د دې متن د اشاره لپاره باید ووایو چې : "پيدایښت دویم باب، لمړې آیات." دویم باب پنځویشت آیاتونه لري. اوس (**٥**) باب او آیات ته ګورو (دا کتاب دئ....) هر کله چې په مقدس کتاب کې د آیاتونو ځای ته اشاره کوو، نو باید چې یواځې په باب او آیات باندې صبر وکړو، بې له دې نه چې د "باب" او "آیات" د کلمو نه استفاده وکړو.

پيدایښت **٥**: ۱-**٥** څنګه لولی؟ "پيدایښت پنځم اول نه تر پنځم پوری." د فاصلې خط د مقدس کتاب آیاتونه او بابونه یو له بل نه بیلوي. که چیرې په یو باب کې آیاتونه په ترتيب سره نه وي ليکل شوي او په هم هغه باب کې ورته اشاره وکړو نو داسې يې ليکو یوشع ۱: **٥**، ۸ او ۱۰ او بیا يې داسې لولو یوشع اول، پنځم، اتم او لسم.

که چیرې زمونږ د خوښې آیاتونه د یو کتاب په مختلفو بابونو کې وي د کامې په وسیله بابونه د یو بل څخه جدا کوو. متی ۱: ۲۱، ۲: ۱- ۲ یعني د متی اول باب یویشتم آیات او متی دویم باب اول نه تر شپږم آیاته پورې.

ځینې کتابونه په مقدس کتاب کې پر له پسی لیکل شوي دي لکه اول پادشاهان او دویم پادشاهان پرله

پسي راغلي دي او يو عنوان هم لري. د يوحنا خطونه نوموړي ليکونکي درېواړه خطونه ليکلي دي چې په درېواړو کې يې د خپل نوم څخه استفاده کړېده. او د هغه نوم په کې ليدل کيږي. لکه اول يوحنا، دويم يوحنا، دريم يوحنا. که چيرې وغواړو اول يوحنا ١: ٩ ته اشاره وکړو نو داسې وايو چې اول يوحنا اول، نهم.

مونږ په دې يقين لرو چې تاسو به دا نقطه ګذاريانې په آسانی سره زده کړئ

دا نقطې به ستاسو سره په راتلونکي مطالعو کې ډيرې ګټورې وي.

## هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوۍ

د آياتونو ځای او د هغوی د څرنګوالی بيان

الف- يوحنا ٣: ١٦

ب- روميان شپږم، درويشتم

ج- ١ يوحنا ١: ٨: ١٠

د- روميان دولسم څوارلسم او شپاړسم.

ه- متی يو، يو، پنځم او تر دريم.

٢- متی ١: ١- ٤ د متې انجيل څلورو لمړنيو آياتونو ته اشاره کوي. د لاندې آياتونو په ځای کې څو آياتونه وجود لري؟

الف- پیدا ایښت ۸: ۱۸- ۲۲
ب- پیدا ایښت ۸: ۱۸ او ۲۲

۳- متی ۱: ۲۱، ۲: ۱، ۳: ۱۳ او ۱۲ پیدا کړی. کومی موضوعاګاني په دې آیات کې ذکر شوي دي.

الف- عیسی مسیح، نجومیان، یحیی بپتسمه ور کوونکی او شاګردان.
ب- عیسی مسیح، نجومیان، یحییٰ بپتسمه ورکوونکی او روح القدس.
ج- عیسی مسیح، یوسف، او شپونکي.

## د آیات ځای پیدا کول

یوه ورځ له دعا او د مقدس کتاب د مطالعې نه وروسته یو نوي ایماندار ماته وویل: "تاسو حتماً تیز فکره یی ځکه چې په مقدس کتاب کې هر یو آیات په تیزۍ سره پیدا کوی." په تیزی سره په مقدس کتاب کې آیات پیدا کول دا معنی نلري چې ګنې یو سړی ډیر تیز او هوښیار دئ. مګر صرف دې مقصد ته اشاره کوي چې هغه درس چې تاسو یې اوس زده کوی، هغه له مخکې نه په ښه شان سره زده کړئ دئ.

د مقدس کتاب په لمړۍ صفحه کې یو فهرست وجود لري چې په هغې کې د مقدس کتاب د کتابونو نومونه او صفحو شماره لیکل شوي ده. شاید چې په لمړۍ

مرحله کې د مقدس کتاب یو خاص متن پیدا کولو په غرض دې فهرست ته رجوع کول ضروري وي.
ښه لاره د آیاتونو د پیدا کولو لپاره دا ده چې د مقدس کتاب نومونه په ترتیب سره حفظ کړئ. ماشومان دا ترتیب په تیزۍ سره زده کوي او مشران هم کولای شي چې دا نومونه حفظ کړي. تاسو کولای شي چې هره ورځ د پنځو او یا شپږو کتابونو نومونه په مسلسله توګه زده کړي او یا هغه په یو کوچني کاغذ باندې ولیکي، او د خپل ځان سره یې هم چیرته وړی او د لږ وخت لپاره یې ولولي.
لږ وخت وروسته به ووینې چې د ټول مقدس کتاب د کتابونو نومونه به وپیژني او په هغو باندې به پوه شي. او په یاد به مو زده وي. نو په دې وخت کې به تاسو په آسانتیا سره په مقدس کتاب کې هر ځای ډیر په آسانۍ سره موندلئ شي، او د آیاتونو او بابونو ځای موندل به تاسو ته ممکن وي.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوي

۴- د ښې خوا هر یو آیات د کیڼې خوا د خپل آیات سره اړیکې ورکړي:

الف- فیلیپیان ۴: ۱ - ۱۹ "آیا تا ته مې حکم ونکړ، نو قوي او زړور اوسه"

ب- ۱ یوحنا ۱ : ۲ - ۸ "که چیرې مونږ دا ووایو چې
بې ګناه یو نو مونږ خپل ځان ته دوکه ورکوو او
په مونږ کې رښتیا نشته."
ج- یوشع ۱ : ۳- ۹ "مالک زما شپون دئ زه به د
هیڅ شی محتاجه نشم."
د- زبور ۲۳ : ۱-۴ "زما خدای به ستاسو هر حاجت
د خپل بې پایانه دولت په مطابق د مسیح
عیسی په وسیله پوره کړي."

## حوالو ته رجوع وکړۍ

د مقدس کتاب په ځینو برخو کې د متن په منځ کې او یا د صفحې غاړې او یا په آخر کې یو آیات د بل آیات د مطالعه کولو لپاره د حوالې په شکل ورکړ شوي وي. تاسو سره دا حواله مرسته کوي چې د دې آیات په ارتباط بل داسې آیات هم پیدا کړۍ. که چیرې د مقدس کتاب د مطالعې لارښود کتاب تاسو په هره ژبه یا په انګلیسی ژبه کې موجود وي، نو کولای شۍ چې په آیات باندې د لیکل شوي کوچنی حرف څخه استفاده وکړۍ او په هغه وخت کې نومورئ آیات په لاس راوړۍ.
په مقدس کتاب کې چې د آیاتونو تفسیر شوئ دئ ډیر ګټور کار دئ، مګر د روح القدس نه نازل شوي نه دي.

د مقدس کتاب استاذانو او محقیقینو د خلکو د درک او پوهې د آسانتیا لپاره د دوی ذکر کړی دئ.

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

د لاندې جملو د منځ نه، هغه جمله چې زمونږ جمله په ښه توګه پوره کوي، د هغې تر خوا د (ص) علامه ولیکی.

**۵**- هغه کوچنې توري چې د کلمو تر خوا لیکل شوي دي هغه په مخصوصه توګه اسناد ... لري.

الف- د بابونو تقسیمول.
ب- د الفبا ډولونه.
ج- د حوالو رجوعات.

**۶** - حوالو ته رجوع کول تاسو سره مرسته کوي تر څو چې....

الف- بل آیات چې په همدې باره کې دئ پیدا کړی.
ب- نور کتابونه چې په همدې باره کې باید ولولی، پیدا کړی.

## د مقدس کتاب کشف الایات

کشف الایات د مقدس کتاب د اصلی فهرست او کلمو څخه عبارت دئ چې د الفبا په بنیاد ترتیب شوئ دئ. په دې فهرست کې هغه ټول خاص لغتونه استعمال شوي دي چې یو آیات په ګوته کوي. په حاضر وخت کې ډیر آیاتونه یا بابونه د انګلیسی ژبې د کینګ جمیز د ترجمې په اساس لیکل شوي دي. (کوم کشف الایات چې په فارسی ژبه کې موجود دئ، هغه هم د زړې ترجمې کینګ جمیز د ترجمې په اساس لیکل شوي دي.) نو هیله لرم هغه څه چې مو درته په دې درس کې د کشف الایات په هکله بیان کړل هغه به ستاسو لپاره ګټور وي.

هر کله چې تاسو وغواړئ چې د کشف الایات څخه استفاده وکړئ نو د ډیرو نمونو ځینې کار اخستلئ شی. د مثال په توګه فرض کړئ چې هغه آیات پیدا کړئ چې د محبت کلمه په کې په کار وړل شوی وي. په خپل کشف الایات کې د محبت کلمه پیدا کړئ. د آیات په هغه کوچنئ برخه کې چې هم هغه آیات راغلئ وي، هغه آیات دئ چې د محبت کلمه په کې استعمال شوې ده.

کولای شو چې د کشف الایات څخه د یو آیات په پیدا کولو کې هم په خاص ډول استفاده وکړو. فرض کړئ

چې تاسو ټول آيات يا يوه برخه د هغې پوهيږئ خو ځای ئې نه پيژنئ. د دې آيات يو اصلي کلمه يا لغت انتخاب کړئ او د خپل کشف الايات څخه استفاده وکړئ. په آيات کې چې کومه کلمه عنوان شوي ده تاسو کولای شئ چې د هماغه لغت په وسيله د خپلې خوښې آيات پيدا کړئ.

د مثال په توګه، تاسو غواړئ چې د دې آيات ځای پيدا کړئ چې وايې "طمعه د ټولو بديو بيخ دئ." شايد چې هغه څه چې له دې آيات نه تاسو ته په ياد دي هم دا برخه ده. لکه څنګه چې وينو د آيات په دې برخه کې درې اصلي لغات وجود لري. کولای شو چې دې لغاتو ته رجوع وکړو "طمعه"، "بيخ" او "بدي". که چيرې په کشف الايات کې د طمعې برخې ته رجوع وکړو، نو دا مطلب به پيدا کړو.

اول تيموتيوس ۶ : ۱۰ ، طمعه د ټولو بديو بيخ دئ.

که چيرې تاسو د طمعې په قطار کې ونشو کولای چې د خپلې خوښې آيات پيدا کړئ، نو د بيخ او بدي اصلي کلمو ته مراجعه وکړئ.

د مثال په توګه نومورې آيات او تيموتيوس ۶ : ۱۰ د هغه آياتونو د جملې څخه دئ چې په غير منظم ډول استعماليږي. مونږ سره په دې وخت کې دا کشف الايات مرسته کوي چې نومورې آيات د نورو آياتونو

سره مقايسه او په تشبيهي ډول يې په ښه توګه درک کړو.

آيا تاسو د مقدس کتاب حوالې يا کشف الايات لرئ؟ دا هغه وسيله ده چې د معلمينو، واعظينو او نورو هغه کسانو سره چې د خدای کار کول غواړي، ډير ضروري شئ دئ. شايد چې تاسو نه غواړي چې معلم يا واعظ شئ، خو که د داسې وسيلو څينې استفاده وکړئ، نو نوې شيان به زده کړئ. نو تاسو په دې مرستو سره کولای شئ چې د خدای د کلام نه زيات مطلبونه حاصل کړئ د خپل ځان او يا د نورو خلکو په هکله به ډير زيات شيان زده کړئ.

## هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوئ

٧- لاندې دوه جملو کې کومه يوه جمله صحيح ده؟

الف- کشف الايات هغه فهرست دي چې په هغه کې د مقدس کتاب اصلي کليمې په ترتيب سره پيدا کولای شو.

ب- کشف الايات خاص د واعظينو او معلمينو لپاره دئ.

ج- که چيرې د آيات نه يو يا دوه لغتونه وپوهيږئ، نو امکان لري چې د خپلې خوښې آيات به پيدا کړو.

د- کشف الایات او حوالې دواړه یو دي.

## خپل جوابونه مقایسه کړئ

۱- الف- یوحنا دریم، شپاړسم

ب- رومیان ۲: ۲۳

ج- اول یوحنا ۱: اتم تر لسم.

د- رومیان ۱۲: ۱۴، ۱۲ او ۱۷.

ه- متی ۱: ۱، ۵: ۱-۳

۵- د حوالو رجوعات.

۲- الف- پنځه

ب- دوه

۲- الف- نور آیاتونه چې په دې هکله شته دي.

۴- عیسی ، نجومیان، یحیی بپتسمه ور کوونکی او روح القدس

۷- الف- صحیح

ج- صحیح

۴- الف- "زما خدای به هم ستاسو ضرورت.....

ب- ۲- "که چیرې وایو چې ګناه نه لرو.....

ج- ۱- "آیا تا ته مې حکم ونه کړو.....

د- ۳- "خدای زما شپون دئ....

## څلورم لوست

## د مقدس کتاب، کتابونه

"د مقدس کتاب لوستل د نورو تاریخي او پخوانیو کتابونو د لوستلو غوندې دي." دا خبره به یو ځوان کوله چې په آخر کې د مقدس کتاب په درسونو کې زمونږ د یو ګروپ سره شامل شو. هر کله چې هغه ځوان د مقدس کتاب یوه حصه مطالعه کړه، نو فکر او عقیده ئې بدله شوه.

دا رښتیا ده چې مقدس کتاب ځینی تاریخي قصې لکه د دنیا پیدایښت او د یهودیانو قصې بیانوي، مګر هغه مطلبونه چې په لیکل شوي دي د تاریخ د بیانولو نه ډیر لوړ او عالي دي. ځینې موضوعاګاني او قصې د بل هدف او منبع نه تکرار او بیانیږي. پیشګویاني او نبوتونه په مقدس کتاب کې په غور سره ثبت شویدي د هغه پیشګویانو او نبوتونو څخه بعضې په هم هغه وخت کې د عمل جامه واغوسته، .او بعضې نور به په آینده کې پوره شي. په دې کتاب کې عشقي داستانونه، شعرونه، سرودونه او متلونه په پریمانه توګه شته دي.

د تاریخي کتابونه څخه د دې طمعه وي چې تاسو ته د خپل وخت د نومیالیو او توریالو په هکله معلومات در

کړي، مګر زوړ عهد هغه عقاید او دستورونه چې په هغه وخت کې چې د هغه نومیالیو په کې ژوند کاوه، بیانوي. دا داستانونه ډیر زیات اهمیت لري، ځکه چې د خدای د روښانې رابطې تصور او څرګندونې خپل قوم ته بیانوي.

کولای شو چې مقدس کتاب په پنځه برخو وویشو. په دریم لوست کې مو د کوچنیو کتابونو ویشنه چې یو رقم بابونه، آیاتونه او عنوانونه لري، تاسو ته تشریح کړل. اوس په دې لویو ویشنو او طبقه بندیو باندې غور کوو.

په دې لوست کې به ولولې....

- د زوړ عهد د کتابونو طبقه بندی
- - د هرې طبقې سره آشنا کیدل

دا لوست به تاسو سره مرسته کوي تر څو چې...

- د مقدس کتاب تقسیم بندی، ترتیب او تشخیص کړې.
- د مشخص صفت بیان چې د هر کتاب مؤلف د نورو کتابونو او مؤلفینو څخه جدا کوي.

## د زوړ عهد د کتابونو طبقه بندی

د زوړ عهد **۳۹** کتابونه په لاندې توګه تقسیم شوي دي:

شریعت **۵** کتابونه
تاریخ **۱۲** کتابونه
شعر **۵** کتابونه
لوي پیغمبران **۵** کتابونه
کوچنی پیغمبران **۱۲** کتابونه

د مقدس کتاب، ابتدائي فهرست د زوړ عهد د کتابونو لیست بیانوي. کولای شو چې دا کتابونه په لاندې توګه وویشو. که چیرې په دې قسم ویشل شوي نه وي، نو لاندې مثال کیدای شي چې یو ښه مثال وي.

### شریعت

پیدایښت
خروج
لاویان
شماره
تثنیه

## تاریخ

یوشع داوران
روت
۱ اول ۲ سموئیل
۱ اول ۲ پادشاهان
۱اول ۲ تواریخ
عزرا
نحمیا
ایستر

## اشعار

ایوب
زبور
امثال
جامعه
د سلیمان غزلي

## لوي پیغمبران

یشعیاه
یرمیا
مراثی
حزقیال

دانیال

## کوچنی پیغمبران

هوشع

یوئیل

عاموس

عوبدیا

یونس

میکا

ناحوم

حبقوق

صفنیا

حجی

زکریا

ملاکي

تاسو به پدې خبره نور هم حیران شوي یئ چې پیغمبران، ولې په دوه ډلو یعني کوچنیو او لویو ویشل شوي دي. د پیغمبرانو ټول کتابونه ډیر مهم دي او دا طبقه بندي یوازي د دوی څخه د ګڼې لپاره ده. یواځنۍ فرق چې د دوی تر منځ موجود دي هغه دا دئ چې د لویو پیغمبرانو کتابونه ډیر حجم او بابونه لري، خو په استثنا د (یرمیا نبي مراثي) چې د حجم او بابونو په

لحاظ ډير بابونه په کې شامل دي، خو حال دا دی چې د کوچنيو پيغمبرانو د کتابونه له جملې څخه حسابيږي.

## هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوی

١- لاندې عنوانونه په صحيح او خپل ترتيب سره تقسيم او طبقه بندي کړی. هغه عنوانونه چې د لمړی طبقې پورې اړه لري په مقابل کې يې ١ او هغه چې د دويمې طبقې پورې اړه لري په مقابل کې يې ٢ وليکی او په همدې ترتيب سره تې آخره پورې دوام ورکړی.

... الف- لوي پيغمبران

... ب- شريعت

... ج شعر

... د- کوچني پيغمبران

... ه- تاريخ

٢- په لاندې طبقه بنديو کې څو کتابونه دي؟

شريعت، شعر، لوي پيغمبران.......... کتابونه لري.

تاريخ او کوچنی پيغمبران ........ کتابونه لري.

## د هرې طبقې سره آشنائی

### شریعت

د مقدس کتاب پنځه لمړني کتابونه، د شریعت د کتابونو په نوم سره مشهور دي. دې کتابونو ته تورات یا خمسه وایې چې معنی یې "پنځه کتابونه" دي. تورات د لوي او عظیم رهبر او د یهودیانو د خلاصونکی موسی په وسیله لیکل شوي دئ. په همدې سبب سره دې کتابونو ته د موسی پنځه کتابونه وایي.

پیدایښت یعني "ابتدا" یا "منشا". د پیدایښت کتاب د انسان د پیدایښت، د نوح طوفان، او د براهیم دعوت ځخه بحث کوي.

خروج یعني "بهر تلل". مونږ ته د خروج کتاب دا بیانوي چې خدای ځنګه خپل قوم د مصر د غلامۍ نه خلاص او هغوی ته هدایت کړ، د مصر دریاب ئې ورته خلاص کړ او د هغوی ټول احتیاجات یې پوره کړل. د خروج په کتاب کې لس حکمونه او هغه شریعت شامل دئ چې خدای د یهودو قوم ته ورکړ.

د لاویانو کتاب خپل نوم د لاویانو ځخه اخستئ دئ. سبط (قبیله) د لاویانو قبیله یوازې د کهانت لپاره غوره شوي وه. په دې کتاب کې د کاهنانو اعمال او د خیرات او قربانیو د پیش کولو ځرنګوالي سره مخ

کیږو. هغه نذرونو او قربانیو دواړو راتلونکي وخت ته اشاره کوله، یعني مسیح ته چې لیکل شوي دي چې هغه به د ټولې دنیا د ګناه لپاره قرباني شي.

د شمیرلو کتاب کې د نفوس شمیرلو ثبت لیدل کیږي. د دې نفوس شمارۍ ثبت د دې په خاطر وو چې هغه ځوان ملت چې غوښتل یې چې هغه خاوره چې خدای د دوی د نیکه ابراهیم سره وعده کړي وه ونیسي، ډیر اهمیت درلود.

تثنیه یعني "دوهم شریعت". د تثنیي په کتاب کې د خدای خپل قوم ته وروستني حکمونه، او د موسیٰ خدای په امانې، او هغه مسئولیت چې یوشع ته د موسیٰ څخه وروسته سپارل کیږي او د هغه ځای به ونیسي، شامل دي.

د موسیٰ پنځګوني کتابونه په ډیر عالي نکتو سره د خدای رفتار د انسان په مقابل کې، د ۲۵۰۰ کلونو په وخت بیانوي، دا کتابونه د خلاصو بنسټ او بنیاد بنا کوي.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۳- د شریعت د کتابونو نومونه یو څو ځلي ولولۍ تر څو چې هغه حفظ کړۍ. او بیا هغه وخت بې د

مقدس کتاب د مراجعې نه د موسی د پنځه کتابونو نومونه واخلئ.

الف- .............

ب -.............

ج - .............

د - .............

ه - .............

**۴**- د ښی خوا تشریحات د صحیح عنوان سره د چپ خوا د تشریحاتو سره ربط ور کړئ.

الف- د غلامی څخه خلاصون. ۱- پیدا ایښت

ب- د یهودو د کاهنانو لپاره قانون. **۲**- خروج

ج- د انسان پیدا ایښت. **۳**- لاویان

د- د نفوس شماری ثبتول. **۴**- شماره

ه- د موسی خدای پامانی. **۵** تثنیه

**۵**- د هر هغه جواب تر خوا د (ص) علامه ولیکئ چې زمونږ جمله په ښه توګه تکمیلوي:

د مقدس کتاب لمړی پنځه کتابونه د شریعت په نوم یادیږی ځکه چې

الف- هغه قانون چې خدای خپل قوم ته ور کړی په کې موجود دئ.

ب- د یهودا **۲۵۰۰** کلن تاریخ بیانوي.
ج- لس حکومونه په کې موجود دي.
د- د لاویانو د دستورنو او حکمونو بیان په کې دئ.

## تاریخ

تاریخی ۱۲ کتابونه د یهودا د قوم تاریخ بیانوي. دا کتابونه د خدای سره د رابطی په هکله چې انسانانو او ملت سره یې لري په مجموعی ډول خبری کوي. یوشع، سردار چې پس د موسی له مرګ څخه عبراني قوم رهبري کړ او د کنعان د نیولو په لور روان وو. د یوشع کتاب د هغه د نیولو په هکله خبری کوي. یعني چې څومره یو څو قومونو، ښارونو او وړو پادشاهیو کوشش وکړ چې د نیوونکو سره مقابله وکړي.
قاضیان ۴۰۰ کلن د ماتي نه ډک او په کنعان کې د کامیابۍ تاریخ لري. یعني هغه ماتي، هر کله چې به قوم توبه وکړه او خدای قاضیانو ته خبر ورکړ چې تر څو هغوی وشړي.

د روت کتاب د یوی انجلۍ په حقله خبرې کوي. هغه انجلۍ چې د موآب د وطن څخه وه او د قاضیانو په زمانه کې یې ژوند کاوه. روت د داؤد پادشاه د نیاګانو څخه او هم د عیسیٰ د نیاګانو څخه ده.

د اول او دویم سموئیل کتابونو د سموئیل چې د اسرائیلو آخري قاضی ؤ خپل نوم اخستئ دئ.
سموئیل، کاهن، نبي، معلم او سیاستمدار ؤ چې د خپلې بادشاهۍ او ملت د امن او سلامتۍ لپاره يې ښه رول لوبولې دئ.
اول او دویم پادشاهان او اول او دویم تواریخ، د یهودا د قوم تاریخ ته ادامه ورکوي او د دې قوم د تجزیې سبب چې په دوه پادشاهیو تبدیلې شوی یعني اسرائیل او یهودا، بیانوي. د تواریخ کتابونه هغه نسب نامې لري چې د یهودیانو ملت لپاره ډیر اهمیت لري.
خدای عزرا کاهن او نحمیا شاهزاده څخه کار واخیست تر څو د یهود قوم د بابلیانو د غلامۍ څخه د خلاصیدو په هکله رهبري کړي. عزرا او نحمیا د یهودو د ملت د بیا ودانولو همت وکړ. خدای عزرا کاهن ته په لیکلو کې الهام وباښه تر څو چې مقدس کتابونه چې د زوړ عهد جوړونکی دئ په کې راجمع کړي. عزرا دې کتاب نه داسې نسخې تیارې کړې چې، تر څو خلک وکولای شي چې د خدای کلام ولولي، او د هغه په هکله خبرتیا پیدا کړي.
که چیرې خپل مقدس کتاب ته وګورۍ، نو و به وینۍ چې تاریخي کتابونه یو په درې حدود کې مقدس کتاب خپل ځان ته اختصاص ورکړئ دئ د یوشع په

لمړۍ صفحه کې او د ایستر په اخري صفحه کې د کاغذ یو پارچه کنبیږدۍ. او کوشش وکړۍ چې په تیزی سره دا نومورړي مقدس کتابونه پیدا کړۍ. دا کار تمرین ته ضرورت لري. امکان لري چې ستاسو دوستان یو څو نومونه انتخاب کړي او تاسو ته ووايي چې هغه پیدا کړۍ.

## هغه څه چې باید تاسو یۍ سر ته ورسوۍ

۲- د ښي خوا تشریحاتو ته د کیڼې خوا د خپلو عنوانو سره ارتباط ورکړۍ.

الف- د یهودو قوم یې د عام قتل نه وساته
ب- د داود پادشاه غوره آنا
ج- ۴۰۰ کاله د ماتي او کامیابۍ تاریخ
د- هغه کاهن چې د خدای د کلام نه یې نسخې تیارې کړي

ه- هغه شاهزاده چې د یهودو قوم یې د بابلیانو د غلامۍ څخه د آزادۍ په خاطر رهبري کړې وو.

و- هغه سردار چې کنعان یې ونیوه
ز- د اسرائیلو د پادشاهۍ شروع
س- د یهودا او اسرائیلو تاریخ

۱- یوشع

۲- قاضیان
۳- روت
۴- ۱ او ۲ سموئیل
۵- ۱ او ۲ پادشاهان او ۱ او ۲ تواریخ
۶- عزرا
۷- نحمیا
۸- استر

۷- د زوړ عهد دویمه طبقه بندی د "تاریخي کتابونو" په نوم بللئ شي ځکه چې .......

الف- د موآب او بابل تاریخ بیانوي
ب- د کنعان او مصر تاریخ بیانوي
ج- د یهودا او اسرائیلو تاریخ بیانوي

۸- د تاریخی کتابونو آخري درې کتابونه د حفاظت په هکله خبرې کوي چې خدای د غلامۍ په وخت کې څنګه بیا د یهودو قوم آزادوي. دا کتابونه عبارت دي له:

الف- عزرا ، نحمیا ، ایستر
ب- ۱ او ۲ سموئیل، ۱ پادشاهان
ج- یوشع، قاضیان، روت

۹- مونږ عزرا د کوم مهم کار د اجرا کولو په خاطر ذکر کړیدئ.

الف- د زوړ عهد د کتابونو یو ځای کول او د هغې ساتل

ب- د خمسه یا د شریعت ۵ کتابونه لیکل

۱۰- د اول پادشاهانو او اول تواریخ پنځه لمړي بابونه د یو بل سره مقایسه کړی. چې په دې دواړو کتابونو کې کوم یو د نسب نامو او د نیکونو او کورنیو د مردم شماری په هکله ډیر معلومات ورکوي؟.

الف- ۱ پادشاهان

ب- ۱ تواریخ

د مقدس کتاب ډیر کتابونه داسې برخي لري چې د شعر په شکل بیان شوي دي. د دې ډول کتابونو نه پنځه کتابونه د شعر د عنوان لاندې طبقه بند شویدی.

ایوب، یو ډرامه ډوله د درد او عذاب او زحمت نه ډک شعر او یو عادل سړی چې په آخر کې هغه د ایمان په وسیله کوم قسم اجر مومی. د کتاب د مقدس کتاب د ټولو نه د پخوانی کتاب په نوم یادیږی.

مزامیر، د مقدس کتاب سرودونه او دعا ده. دا شعرونه به د اسرائیلو د قوم د راجمع کیدو او عبادت لپاره به کار ورځنې اخیستل کیدو. نو لدې کبله داؤد او ځینو رهبرانو ډیر زبورونه غږولي دي. سره د دې هم

تر اوسه پورې د دوی د ليکونکو تعداد صحيح روښانه شوي نه دئ.

سليمان، د داؤد زوی او د اسرائيلو دريم پادشاه او يو هوښيار سړئ ؤ او د عمر په لحاظ زوړ ؤ. هغه د امثالو کتاب له دې خاطره تاليف او ليکه تر څو ځوانانو ته دا خبره ور زده کړې چې خپل ژوند څنګه او په کاميابه طريقې تير کړي. د امثالو کتاب يو د حکمت او عقل د کتابونو څخه ګڼل کيږي.

جامعه، د سليمان خپل شهادت دئ چې هغه وايې چې د يو انسان په ژوند کې چې خدای نه وي، د هغه ژوند څومره عبث او بې فايدې دئ. لذت، مال، دولت، کاميابی، او واک او قدرت نشی کولای چې د انسان ژوند راضي کړي. انسان د دې لپاره پيدا شوي دئ چې د خدای خدمت وکړي.

د سليمان غزلونه يوې اپيرا ته ورته او واقعاً ډرامتيک دي. دا کتاب د ناوې او د واده د زلمي تر منځ د مينې او محبت په هکله د مثال په توګه د خدای محبت چې د خپل قوم سره يې لري بيانوي.

عبراني شعر، په وزن او سيلابونو او بيان کې د نورو شعرونو سره توپير لري، مګر هغه نمونې چې مونږ د خپلو ښائسته شعرونو لرو د هغوی سره دومره نژديوالئ نه لري. په ټولو شعرونو کې وينو چې څنګه د

خدای زړه د خپل قوم طرف ته تمایل لري او ټوپونه وهی، او قوم په خپل وار سره د خدای په مقابل کوم عکس العمل ښيي.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۱۱- راځی چې یو ځل بیا دا تشریحات د خپلو عنوانو سره وصل کړو، بلکل هماغه قسم لکه چې د دوه مخکینو طبقه بندیو لپاره مو وکړل. د ښی خوا د هر یوې تشریح په مقابل کې د مربوطه کتاب عنوان ولیکی.

الف- خدای ته خپل قوم دومره ګران دئ چې د خپلی ناوې زلمئ ۱-ایوب

ب- د عبراني شعر کتاب ۲- زبورونه

ج- ځوانانو ته درس ورکوي چې څنګه ژوند وکړی. ۳- امثال

د- ولې عادل سړئ تکلیف مومي. ۴- جامعه

ه- بې خدای ژوند کول، عبث او بې حاصله ۵- غزلونه

## ستر پیغمبران

هر کله چې خدای غوښتل چې مستقیماً د خپل قوم سره اړیکې ولري، نو د غوره شوو کسانو څخه به یې استفاده کوله چې نبیان نومیدل. دغو نبیانو به کله د

خدای زیرئ او پیغام په شفاهي توګه او کله په کتابي توګه بیانولو.

دا کتابونه په دې سبب سره د لویو نبیانو په عنوان کې طبقه بندي شوي دي چې د هغوی د خدمت وخت، د زیري میزان او ژوره اغیزه یې نورو ټولو نبیانو ته زیات وو.

یشعیاه، هغه شاهزاده او پیغمبر ؤ چې د بابل امپراطور په وخت کې یې ژوند کاوه. یشعیاه د یهودو د ملت د غلامۍ پیشګوئې وکړه، مګر په هماغه وخت کې یې د امید پیغام هم ورکړ. د مسیح د پیدایښت څخه ۷۰۰ کاله د مخه د یوې پیغلې څخه زیږیدل، او د هغه مرګ د انسانانو د ګناهونو لپاره او د هغه د بیا راژوندې کیدلو پیش ګوئی وکړه.

یرمیا هم د بابلیانو د اسارت او پادشاهۍ په هکله خبرې او هم یې پیشګویې وکړه چې د ۷۰ کالو څخه وروسته به یهودیان بیا خپل وطن ته ستانه شي. یهودیانو د تلو حکم په هم هغه رنګ وشو لکه څنګه چې یرمیا نبي د هغه په هکله پیشګویې کړې وه (یرمیا **۲۵** : ۱۱).

د یرمیا ډیرې پیشګویی چې د اورشلیم د تباهی په هکله وې سر ته ورسیدلی، او ویې لیدلې. او هغه دا

لیدنې په پنځه غمجنو شعرونو او د مراثې په کتاب کې، یرمیا نبي ئې بیانوي.

حزقیال، یو د لویو پیغمبرانو د جملې او د تبعید د زمانې څخه دئ. هغه د ۷۰ کالو په وخت کې د یهودو اسارت چې د بابلیانو لخوا څخه وو، د هغه په هکله نبوت وکړ.

دانیال، شاهزاده چې یهودي اسیر وو، د مپراطورۍ د یو لمړنۍ وزیر سره لار پیدا کړه. تد هغه د قیقې پیشګویي چې د امپراطورۍ د ځرګندونی او سقوط په ارتباط دی واقعاً چې حیرانوونکی دي. د دوی څخه ډیری پیشګویانی سر ته رسیدلی دي او ځینې نن زمونږ د ژوند په دوران کې سر ته رسیږي.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۱۲- د لویو پیغمبرانو څخه کوم یو ۷۰۰ کاله د مخه د عیسی مسیح څخه ژوند کاوه او د هغه پیشګویانې د هغه په وخت کې سر ته ورسیدلې؟

الف- یشعیا

ب- یرمیا

ج- حزقیال

د- دانیال

۱۳- د لاندې کتابونو څخه کوم یو له شعرونو څخه ډک کتاب دئ چې د شعرونو د طبقه بندۍ په لیست کې ئې چې نوم نشته او د اورشلیم د تباهۍ او نړیدلو په هکله خبرې کوي؟

الف- امثال

ب- جامعه

ج- یرمیا

د- مراثي

په لاندې سوالونو کې چې کوم یو په ښه توګه زمونږ د فکر په مطابق جمله تکمیلوي تر خوا یې د (ص) علامه ولیکۍ:

۱۴- هغه نبیان چې په بابل کې بندیان وو او د غلامۍ او جدائې په وخت کې یې د یهود د قوم لپاره نبوت کاوه، عبارت دي له:

الف- یشعیاه او یرمیا

ب- حزقیال او دانیال

ج- هوشع، یوئیل او عاموس

د- یرمیا او مراثي

۱۵- د هغه یهودی شاهزاده نوم څه وو چې د غلامۍ په زمانه کې یی خپل ځان صدر اعظمی ته رسولئ وو؟

الف- یشعیاه
ب- یرمیا
ج- دانیال

۱۲- د ښي خوا نبوتونو ته د خپل مربوط نبی سره ارتباط ورکړی.

الف- د پیغلې څخه د مسیح پیدا ایښت ۱- یرمیا
ب- د امپر اطوریو څرګندیدل او خاتمه ۲- یشعیاه
ج- ۷۰ کاله د بابلیانو په غلامۍ کې ژوند ۳- دانیال

## کوچنی پیغمبران

که چیرې د کوچنیو پیغمبرانو ۱۲ کتابونه د یو بل تر خوا کیږدو، د هغوی قطر د یشعیا نبي د کتاب د قطر په اندازه نه دي. مګر دې کسانو هم خدای سره مینه درلوده او په ډیره زړورتیا سره یې هغه خلکو ته د خدای زیرئ ورکاوه چې په خدای به یی عقیده نه درلوده او یا به یی هغه ته ضرر ورساوه. لمړي ۹ کسان له دې پیغمبرانو څخه، د غلامۍ د دورې څخه د مخه،

او پاتې ۳ پيغمبران د يهودو خپلې خاورې د بيا راتلو څخه وروسته ژوند کاوه. هر يو له دې کتابونو څخه د خپل نبي په نوم بللئ شي.

هوشع، د هغه محبت په هکله چې خدای يې د خپل قوم سره لري، خبرې کوي او نومورې محبت داسې ښکاره کوي چې يو څښتن يې د خپلې بې وفا ښځې سره لري. هوشع د خدای محبت د خپلې بې وفا ښځې سره تصور کوي.

يوئيل، د روح القدس په هکله پيشګويی وکړه چې دا پيشګويی د پنطيکاست په ورځ او په اوسني وخت که په پنطيکاستي نهضت کې اوس سر ته رسيږي او د عمل جامه اغوندي.

عاموس، هغه شپونکئ وۀ چې خدای د اسرائيلو پايتخت ته وليږه تر څو د حاکم اجتماعي عدالت لپاره هلته نبوت وکړي. او خلک د هغه قضاوت نه خبر کړي چې په هغوی باندې زر راتلونکی وو او هغوی ته يې اخطار ورکړ.

عوبديا، د ادوم ملک لپاره نبوت وکړ او هغوی ته يې اعلان وکړ چې د خدای قضاوت په هغوی راتلونکی دئ. عوبديا د زوړ عهد د ټولو نه کوچنی کتاب دئ. د عوبديا نبي په هکله ډير لږ معلومات لرو. خدای يونس د نبي په صفت نينوا ته ور وليږه، مګر يونس کوشش

وکړ چې د کشتۍ په وسیله کوم بل ښار ته لاړ شي. پس له دې چې یو لوی نهنګ هغه تیر کړ، توبه یې وکړه او خدای هغه د نهنګ د خیټې څخه بهر راوویست او هغه پس له هغې د خدای حکم نه ئې فرمانبرداری وکړه.

میکا، د یشعیاه او هوشع په زمانه کې ژوند کاوه. او هغه د یهودو د بربادی په هکله پیشګویې وکړه او هم یې د هغه نور او امید په هکله پیشګویې وکړه چې په آینده کې په هغوی باندې ځلیدونکی ؤ. هغه د وعده شوي خلاصونکې په هکله خبرې کولې او هم یې په میکا **۵: ۲** کې د هغه ښار او کلی په هکله چې عیسی په کې پیدا کیدونکی وو پیشګویی وکړه.

ناحوم، د نینوا د لوی ښار د تباهۍ په هکله چې د یونس په وسیله یې توبه کړی وه، پیشګویې وکړه. د یونس د زیري نه وروسته د نینوا خلکو خپلو ناوړه عملونو ته بیا دوام ورکړ او د خدای د حکم په مطابق هغه ښار د خپلې تباهۍ لور ته نژدې کیدلو.

حبقوق او صفینا، د دې مطلب په هکله خبرې وکړې که چیرې خلک توبه ونکړي، ماتې به وخوري او د نورو غلامان به شي. خلکو خپلو ګناهونو ته دوام ور کړ او بیا بابل ته د یو غلام په صفت بوتلای شول.

د یهودو قوم د بابلیانو د غلامۍ نه فلسطین ته د بیا راستنیدو په وخت کې خدای د حجي او زکریا څه کار

واخيست تر څو چې هغوی د خدای د کور د بيا ودانولو په هکله تشويق کړي. ملاکي چې د زوړ عهد آخرين نبي دئ څلور سوه کاله مخکې د عيسی د پيدايښت څخه ژوند کاوه. هغه خبرتيا چې ملاکي نبي په خپل کتاب ۳: ۸- ۱۲ د لسم په هکله ورکړی ده ولولئ.

په دې شکل سره د خدای د اوامرو نظم او ترتيب چې په زوړ عهد کې يې خپل قوم لپاره درلود ختميږی، نو اوس هغوی د مسيح او د نوي عهد د راتلو انتظار کوی.

۱۷- د بنې خوا هر يو مشخص صفت ته د کينې خوا د خپل نبي سره ورته رابطه ورکړی.

الف- په ادوم باندې قضاوت ۱- هوشع
ب- نينوا ته خبرتيا ۲- يوئيل
ج- د خدای مينه او محبت ۳- عاموس
د- اجتماعي بې عدالتي ۴- عوبديا
ه- روح القدس ۵- يونس او ناحوم
و- د عيسی د پيدايښت ځای ۶- ميکا
ز- د لسم په هکله خبر ۷- حبقوق او صفينا
س- ملی ماتي او غلامي ۸- حجي او زکريا
ش- د خدای د کور بيا ودانول ۹- ملاکي

## خپل جوابونه مقایسه کړی

الف- ۴

ب- ۱

ج- ۳

د- ۵

ه- ۲

۱۰ –ب- ۱ تواریخ

۲- پنځه او دولس

۱۱- الف -۵ –د سلیمان غزلونه

ب- ۲- زبورونه

ج- ۳- متلونه

د- ۱- ایوب

ه- ۴- جامعه

۳- الف- پیدایښت

ب- پیدایښت

ج- لاویان

د- شماره

ه- تثنیه

۱۲ –الف- یشعیاه

۴- الف- ۲- خروج

ب- ۳- لاويان

ج- ۱- پيدايښت

د- ۴- شماره

ه- ۵- تثنيه

۱۳- د- مراثی

۵- الف- هغه قانون چې خدای خپل قوم ته ور کړئ په کې موجود دئ.

ج- لس احکام په کې موجود دي

د- د لاويانو کړنلاره په کې موجوده ده

۱۴- ب- حزقيان او دانيال

۶- الف- ۸- ايستر

ب- ۳- روت

ج- ۲- قاضيان

د- ۶- عزرا

ه- ۷- نحميا

و- ۱- يوشع

ز- ۴- او ۲ سموئيل

س- ۵- او ۲ پادشاهان او ۱ او ۲ تواريخ

۱۵- ج- دانيال

۷- ج- يهودا او اسرائيل

۱۲- الف- ۲- یشعیاه

ب- ۳- دانیال

ج- ۱- یرمیا

۸- الف- عزرا، نحمیا، ایستر

۱۷- الف- ۴- عوبدیا

ب- ۵- یونس او ناحوم

ج- ۱- هوشع

د- ۳- عاموس

ه- ۲- یوئیل

و- ۲- میکا

ز- ۹- ملاکي

س- ۷- حبقوق او صفینا

ش- ۸- حجي او زکریا

۹- د زوړ عهد د کتابونو راټولول او د هغه حفظ کول اوس چې تاسو د لمړۍ دورې ځلور لوستونه ولوستل، نو کولای شئ چې د وروستنۍ آزموینې څخه ورته جواب ورکړۍ. د لمړۍ لوست نه تر دریم پورې تکرار کړۍ او پس له هغه نه په هغه کوچنۍ د یاداشت کتاب کې چې کوم احکام ورکړای شوي دي او د سوالونو جوابونه په کې موجود دي، نو بیا خپلو سوالونه ته د کړنلارې په مطابق جواب ور کړۍ.

## پنځم لوست

## د نوي عهد کتابونه

په هغه وخت کې چې نوي عهد وليکل شو، نو د زوړ عهد ځيره تر ډير حده پورې بدله شوې وه. د نبيانو او پيغمبرانو وخت تير شوئ ؤ د ډيرو خلکو روحيه د روحاني شيانو په هکله بې تفاوته ښکاريده. د يهودو ملک هم د اروپا سره د نژدې هيوادونو په شان د روميانو د حکم لاندې ژوند کاوه. په حقيقت کې دا وخت د يهوديانو لپاره د ډير تکليف او د سختۍ وخت ؤ او هغوی په خپل ټول طاقت سره غوښتل چې استقلال حاصل کړي، مګر د روميانو حکومت د هغوی لپاره ځينې ګټې هم درلودې. د روم غښتلې لښکر د دې سبب شو چې د تجارت د لارې امنيت راولي او د يونان فرهنګ د خپلې موسيقۍ او هنر په وسيله په ټوله امپر طورۍ کې پلې او خپور کړي.

دا يو تصادفي کار نه ؤ چې خدای خپل زوی په دې وخت کې دې دنيا ته راوليږلو. په هغه وخت کې يونانيانو يوه شريکه ژبه په خپله ټوله امپراطورۍ کې پلې او رواج کړې وه، نو له د دې سببه د انجيل زيری په پراخه ډول په ټوله امپراطورۍ کې بې د کومې سختۍ نه خپريدو، او له بلې خوا هغه آزادی او امنيت چې

رومیانو منځ ته راوستی وو، د زیری د آوریدو لپاره ډیر غټ د آسانتیا سبب ګرزیدلی وو.

نوې عهد د مسیح د ژوند د داستان بیانونکئ او د مسیحیت شروع ده. د نوئ عهد کتابونه ټولو مؤمنانو ته بې شماره وعدې ورکوي، د آینده په هکله پیشګویی کړیده او د ژوند امید او ابدی ژوند بیانوي. هیله لرم چې د مطالعې په دوران کې هغه په خپله مطالعه او د هغه حقیقونه حاصل کړي.

## تاسو به په دې لوست کې دا ولولی

- د نوي عهد د کتابونو طبقه بندي
- او د هرې طبقې پیژندل او آشنائي

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي تر څو چې....

- د نوي عهد د مولفینو په هکله چې څه لیکل شوي دي معلومات حاصل کړي.
- او په دې پوه شی چې د نوې عهد اصلي او مرکزي اعلان د عیسی مسیح ژوند او تعلیم دئ.

## د نوي عهد د کتابونو طبقه بندي

په څلورم لوست کې مو ولیدل چې زوړ عهد په پنځو برخو تقسیم شوی دئ. نوی عهد هم پنځه مهمې برخې لري. نوې عهد په لاندې ډول ۲۷ کتابونه لري:

### انجیلونه

متی
مرقوس
لوقا
یوحنا

تاریخ
اعمال د رسولانو

د پولوس رسالت

رومیان
۱ او ۲ کورنتیان
ګلتیان
افسیان
فیلیپیان
کولوسیان
۱ او ۲ تسالونیکیان
۱ او ۲ تیموتیوس

تیطوس

فلیمون

عبرانیان

عمومي رسالت

یعقوب

۱ او ۲ پطروس

۱، ۲ او ۳ یوحنا

یهودا

نبوت

مکاشفه

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱ - لاندې لغات په صحیح حروفو سره تکمیل کړئ.

تقسیمات

ان ............. ۴ کتابونه

تا ............... ۱ کتاب

پولس رس ......... ۱۴ کتابونه

عمومی رس......... ۷ کتابونه

نب............. ۱ کتاب

د ټولو مجموعه ۲۷ کتابونه

## د هرې طبقې سره آشنائي انجيلونه

متی، مرقوس، لوقا او یوحنا په خپلو انجیلونو کې د عیسی د ژوند قیصې لیکلي او بیان کړي دي چې د هغوی هر یو انجیل د دوی په خپل نوم باندې یادیږي. دې څلور کسانو ته د څلورو مبشرینو خطاب هم کیږي. هر یو له دې شاګردانو نه په خپل انجیل کې د مسیح په هکله مختلف تاکیدونه لري او د مختلفو اړخونو څخه هغه ته ګوري.

متی، عیسی د یو پادشاه او یا د وعده شوي مسیح په عنوان معرفي کوي. متی د زوړ عهد په مرستې سره هغه ټول نبوتونه چې د مسیح په هکله شوي دي (هغه نوم چې یهودیانو د خپل خلاصونکي او یا پادشاه ته ورکړئ ؤ څرګندوي چې دا ټول نبوتونه په عیسی کې سر ته رسیدلي دي.

مرقوس، خپل انجیل د رومیانو لپاره ولیکلو. هغه رومیانو ته چې د خدای د کلام په باره کې په پوره ډول بې خبره ؤ او خپل انجیل د پویا او ډینامیک د اعمالو څخه ډک کړی دئ او خپلو لوستونکو ته دا په ګوته کوي چې عیسی هم د بنده او غلام په صفت دې نړۍ ته راغی.

لوقا ډاکټر، خپل انجیل د هغه یو یوناني ملګري ته ولیکلو. هغه په خپل انجیل کې د مسیح په کامل انسانیت باندې تاکید او هغه خلکو ته د انسان د زوي په صفت معرفي کوي.

یوحنا، په خپل انجیل کې ځینې ګواهان وړاندې کوي تر څو خلکو ته دا وښیې چې عیسی، د خدای زوي دئ او هر هغه څوک چې په هغه باندې ایمان راوړي ابدي ژوند به ولري.

لمړنیو درې انجیلونو ته "یو قسم انجیلونه" وایې، ځکه چې په دې انجیلونو کې یو قسم واقعات بیان شوي دي او ټولو دا کوشش کړئ چې د مسیح ژوند د کامل او پوره منبع څخه خلکو ته وښیي. دا انجیلونه د واقعو په غوره کولو کې هم یو شان دي. خو یوحنا ډیر زیات تاکید د عیسی په وینا او تعلیم باندې کړئ دئ او حتی د هغه د ژوند په داستان باندې هم تاکید کړئ دئ.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۲- هغه انجیل چې د مختلفو ویناګانو او پیشګویانو په وسیله عیسی د پادشاه او وعده شوي مسیح په صفت معرفي کوي کوم یو دئ؟

الف- متی

ب- مرقوس
ج- لوقا
د- یوحنا

۳- لوقا ۱: ۱- ۴ ولولئ. په دې برخه کې به ووینئ چې لوقا خپل په څه ... بنا کړ.

الف- شایعات
ب- د عیسی مسیح د شاګرد په صفت خپله شخصي تجربه
ج- په غور سره پلټنه او عینی شاهدانو سره مصاحبه
د- هغه قصې او حدیثونه چې په هر ځای کې د هغه په هکله نشر شوي ؤ

۴- مرقوس خپل انجیل .......... ډک کړ.

الف- د زوړ عهد د پیشګویانو څخه
ب- د عیسی د واعظونو څخه
ج- د عیسی د کار او د عملونو څخه
د- د عیسی د الوهیت د دلیلونو څخه

۵- یوحنا ۲۰: ۳۰- ۳۱ مطالعه کړئ. یوحنا داسې توضیحات او تشریحات کړي دي چې د هغوی په سبب یې خپل انجیل لیکلئ دئ تر څو چې لوستونکی د عیسی هغه مقام ته .....

الف- د کامل انسان په صفت په هغه ایمان ولري او هغه ځخه تابعداری وکړی.

ب- د خدای د زوي په صفت په هغه ایمان ولري او په هغه کې ابدی ژوند ولري.

۲- هغه تاکید چې لوقا د عیسی په هکله لري هغه دا دئ چې هغه......

الف- د انسان زوئ دئ.

ب- د یهودیانو وعده شوي مسیح دئ.

ج- د خدای زوئ وئ.

د- هغه پادشاه دئ چې پدې نژدې وختونو کې به راښکاره شي

خپل جوابونه مقایسه کړی

## تاریخ

لوقا، اعمال د رسولانو د دې لړاره ولیکلو تر څو دا په ګوته کړي چې عیسی به څرنګه روح القدس راولیږی چې د هغه پواسطه خپل کار ته مځکې پر مخ باندې د آسمان د ختلو وروسته جاري وساتي.

رسول یعنی "رالیږل شوي" یا هغه څوک چې "رالیږل شوي دئ." اعمال د رسولان دا حقیقت څرګندوي چې په کومه طریقه ځینې کسان د خدای لخوا را لیږل شوي دي تر څو چې د هغه انجیل په ټوله نړۍ کې خپور کړي.

د اعمال د رسولانو کتاب یو اصلي شخصیت، پولوس رسول دئ. هغه، هغه رسول دئ چې د غیر یهودیانو او یا د نورو امتونو لپاره رالیږل شوي ؤ. لوقا، د پولوس سره په ځینې سفرونکې د هغه سره یو ځای او شامل ؤ او خپل زړه پورې واقعي او د زیري ځینې برخي مونږ ته بیانوي. هغه وایی چې روح القدس څرنګه د پولوس څخه کار واخست تر څو مسیحی کلیساګانې په ډیرو هیوادونو کې منځ ته راوړی.

د اعمالو د کتاب مهم آیات اعمال ۱: ۸ آیات دئ. نوموړی آیات باید هر یو مسیحی حفظ کړي.

خو تاسو ته به روح القدس په نازلیدو طاقت درکړي شي او تاسو به په بیت المقدس او په ټوله یهودیه او سامریه کې او د دې نه اخوا د دنیا تر بله سره زما شاهدان یی." اعمال ۱: ۸

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی**

۷- عنوان "اعمال د رسولانو" یعني رسولان

الف- ځای نیوونکی

ب- رالیږل شوي

ج- نمایندهګان

د - لارښونکي

۸- لاندې جمله پوره کړۍ

ډاکټر د ..... په نوم، پولوس سره د هغه په تبلیغاتی سفر کې..... شامل شو.

۹- د اعمال د ټولو نه مهم زیرئ دا دئ چې:

الف- پولوس به ټول امتونه د مسیح په طرف هدایت کړي.

ب- لوقا به یو زیري ورکونکي ډاکټر شي.

ج- روح القدس به په اورشلیم کې شهادت ورکړي.

د- روح القدس به د زیري ورکولو طاقت ورکړي.

خپل جوابونه مقایسه کړۍ

## د پولوس رسالت

پولوس رسول، د نوي عهد دیارلس یا څوارلس کتابونه لیکلي دي چې په دوی کې ځینې هغه کلیساګانو ته خطاب کوي چې هغه په خپله تاسیس کړي وي. د عبرانیانو کتاب د خپل لیکونکی لاس لیک نلري، نو په دې سبب مونږ نشو کولای چې په ډاډه توګه ووایو چې دا کتاب هم پولوس لیکلئ دئ. خو سره د دې ځینې پلټونکی د دې خبرې تصدیق کوي چې دا کتاب هم پولوس رسول لیکلئ دئ. مونږ هم د

عبرانیانو خط د پولوس د رسالت په لیست کې شاملوو.

روميان
۱ او ۲ کورنتيان
ګلتيان
افسيان
فيليپيان
کولوسيان
۱ او ۲ تسالونيکيان
۱ او ۲ تيموتيوس
تيطوس
فليمون
عبرانيان

په هغه ورځو کې لکه د نن غوندې چاپخانو وجود ندرلود ، نو لدې کبله دا ليکونه به په کليساګانو لاس په لاس ګرځيدل. ګمان دئ چې د هرې کليسا غړو به د هغه خطونو څخه د خپل ځان لپاره نسخې تيارولې.
روميان، د قوي توضيحاتو او تشريحاتو له سببه چې د خلاصون په هکله ئې درلودل نو "د مسيحيت د جامع ټولنې په نوم وبلل شو.

د رومیانو د خط اصلي موضوع د دې څخه عبارت ده چې یو انسان یوازې د ایمان په وسیله عادل شمیرل کیږي.

پولوس د ۱ او ۲ کورنتیانو خط د هغې کلیسا لپاره ولیکلو چې په خپله يې په کورنتوس کې تاسیس کړې وه. دا خط د تعلیمی مسالو او په کلیسا د کردار او رفتار په هکله معلومات ورکوي.

ګلتیان، چې د رومیانو د کتاب څخه وروستنۍ عادل کیدل یوازی د ایمان په وسیله دي. ګلتیان هم په دې خبرې باندې تاکید کوي چې یو انسان نشی کولای چې د خپلو ښو اعمالو په وسیله خلاصون پیدا کړي، مګر یوائنې د خلاصون لار، په عیسی باندې ایمان لرلو څخه عبارت ده.

پولوس، هغه وخت د افسیانو، فیلیپیانو، او کولوسیانو خطونه ولیکل کله چې هغه په زندان کې بندی وو. دا نبوتونه "د زندان" په نبوتونو باندې مشهور دي. او مسیح د ژوند په هکله خبرې کوي.

د تسالونیکیانو دواړه خطونه له دې موضوع په هکله خبرې کوي چې د مسیح د آسمان ته د ختلو او د بیا راتلو څخه د مخه به څه واقع کیږي. تاسو کولای شۍ چې د مسیح د بیا راتلو په باره کې او تسالونیکیانو ۴: ۱۳- ۱۸ مطالعه کړۍ.

د پولوس د خطونو څخه څلور خطونه مشخصو کسانو ته لیکل شوي دي. دوه خطونه تیموتیوس او یو خط تیطوس چې د شپونکو له جملې څخه وه ډیر زیات کتور دي. د دې نه مخکې چې پولوس خپل ژوند د مسیح لپاره له لاسه ورکړي نو آخری خط یې د تیموتیوس د تشویق لپاره ولیکلو چې هغه د مسیح په خدمت کې تر آخره وفادار پاتې شي. د تیموتیوس دویم خط **۴**: **۵**- **۸** ولولۍ.

اونیسیموس چې د فیلیمون څخه تښتیدلی غلام ؤ هغه وخت چې د پولوس سره په بندی خانه کې یو ځای بندي ؤ نو خلاصون یې وموندلو پولوس یو خط فیلیمون ته ولیکلو او د هغه څخه ئې د اونیسیموس د بخښنې غوښتنه وکړه او ورته ئې وویل چې پس له دې هغه په مسیح کې خپل ورور وګڼه.

د عبرانیانو اساسي کلمه د "عالی او ښه" څخه عبارت ده دا لیک چې یهودي نژادو مسیحیانو ته لیکل شوي دئ، هغوی ته دا خبره ور په یادوي چې نوئ عهد د زوړ عهد څخه عالي او ښه دئ. د عبرانیانو خط دا خبره څرګندوي چې هغه قرباني چې د سمبول په توګه د شریعت د قانون د لاندې اجرا کیدله، په حقیقت کې د عیسی مسیح د قربانۍ څخه په یو قسم نماینده ګی کوله چې هغه زمونږ مشر کاهن او د هغه قربانې د ټولو

څخه عالي او بهتره ده چې خپل ځان یې زمونږ د ګناهونو لپاره قرباني کړ.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱۰- د هغه موضوع تر خوا یوه د (ص) علامه ولیکئ چې کومه زمونږ جمله په ښه او صحیح توګه پوره کوي.

خطونه یعني:

الف- تعلیم
ب- لیک یا خط
ج- کاپي شوي نسخه

۱۱- د هر یو لیک اصلي موضوع په ښي طرف کې لیکل شوې ده د دوی د هر یوي تر خوا د خپل لیک شماره ولیکئ:

الف- مسیحي ژوندون
ب- عیسی زمونږ لوي او مشر کاهن
ج- د ایماندار پوسیله عادل ګڼل
د- د آسمان څخه د عیسی بیا راتلل
ه- د یو غلام بخښل
و- یو شپون باید څرنګه خدمت وکړي.

۱- رومیان او ګلتیان
۲- افسیان، فیلیپیان، او کوسیان
۳- ۱ او ۲ تسالونیکیان
۴- ۱ او ۲ تیموتیوس او تیطوس
۵- فلیمون
۶- عبرانیان

۱۲-د هغې موضوع تر خوا د (ص) علامه ولیکۍ چې زمونږ جمله په صحیح او اساسی ډول پوره کوي.

الف- ارزښتناک نصیحتونه مسیحیانو ته وړاندې کوي.
ب- دا خبر په ګوته کوي چې مونږ په کومه طریقه خلاصون موندلۍ شو.
ج- دا خبره په ګوته کوي چې پیغمبرانو څنګه ژوند کاوه.
د- د مسیح تعلیمات په ډیره روښانه توګه بیانوي.
ه- پول په بندیخانه کې لیکل شوي دي.
و- شپونکو او کلیساګانو ته وایي چې په کومه طریقه خدمت وکړي.

خپل جوابونه مقایسه کړۍ

## عمومي خطونه

د پولوس ټول خطونه د خپل مخاطب په نوم لیکل شوي دي. مګر عمومي خطونه ئې د هغه کسانو په نومونو لیکل شوي دي چې هغوی ته مخاطب دي.

یعقوب، د یعقوب د خط لیکوال دئ. او د اورشلیم د کلیسا شپون ډیر ګمان کیږی چې د عیسی ورور ؤ. په هغه وخت کې د یوحنا د ورور یعقوب سر له تنې څخه غوڅ شوي ؤ.

یعقوب داسې تعلیم ورکوي چې په مسیح کې ژوندی ایمان د نیکو عملونو میوه نیسي. زمونږ عملونه مونږ ته خلاصون نه شي راکولی. مګر که چیرې مونږ خلاصون موندلی وي، نو هر هغه څه چې زمونږ د توان او قدرت څخه امکان لري باید د خدای او د هغه د قوم لپاره یی سر ته ورسوو.

د پطروس لیک هغه لیکونه دي چې د زړورتیا او تشویق څخه ډک دي. او هغه مسیحیانو ته دا خطاب کوي چې په تکلیفونو او غمونو کې ژوند تیروي. هغوی ته دا وریادوي چې یوه ورځ به مالک بیا راځی او هغوی ته به د خپلو نیکو اعمالو او وفاداري اجر ورکړي.

یوحنا ، د هغه محبوبو شاګردانو د جملې څخه دئ چې د نورو څخه یې په دنیا کې زیات عمر تیر کړ. د یوحنا

انجیل د هغه پورې اړه لري او درې نور لیکونه هم د هغه په نوم باندې بللی شویدي. چې دا موضوع بیانوي چې د خدای محبت د دې خبرې سبب ګرځی چې مونږ باید د یو بل سره محبت ولرو. د هغه په ټولو لیکونو کې لیدل شوي دي. یوحنا د مکاشفي کتاب هم لیکلئ دئ، یعني هغه کتاب چې مسیح د پادشاهانو پادشاه او رب الارباب په صفت معرفي کوي.

یهودا ، د ټولو څخه آخری خط، د یهودا ، د یعقوب د ورور پوسیله لیکل شوئ دئ، ګمان دئ چې هغه هم د عیسی مسیح د ورونو له جملې څخه دئ. یهودا لوستونکو ته دروغجنو معلمانو او استاذانو په هکله ورته اخطار ورکوي او د عیسی مسیح د بیا راتلو عدالت په هکله خبرې کوي.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱۳- د لاندې خطونه څخه د هغوی اصلي موضوع څه شئ ده:

یعقوب

۱ او ۲ پطروس

۱، ۲ او ۳ یوحنا

یهودا

خپل جوابونه مقایسه کړئ

## نبوت

د مکاشفي کتاب، د آخرې زمانې کتاب په نوم هم یادیږی، ځکه چې په هغې کې د راتلونکي وخت پټ رازونه څرګند شوي دي. د دې کتاب سمبولی رویا د دانیال د کتاب د رویاګانو سره شباهت لري.

یوحنا د مکاشفې د کتاب لیکوال په زوړ عمر کې د پطموس په جزیره کې تبعید یا د جدائي په حالت کې د حاضري زمانې د آخری وخت په هکله، د آسمان په هکله رویا او د ملکوت او د پادشاهۍ د راتګ په هکله خدای هغه ته رویا ور وبخښله.

سر بیره پر دې چې یوحنا عیسی د هغه وخت راسې پیژندلو چې هغه خپل خدمت د مځکې پر مخ کاوه. او په هغه یي ایمان درلود. مګر په دغه رویاګانو کې عیسی په آسمان کې د یو غښتلی فاتح په صفت مطالعه کړو. یوحنا عیسی ته د هغه چا لقب ورکړۍ چې د مځکې او د آسمان ټول قدرت د هغه په لاس کې دۍ (مکاشفه ۱ : ۱۸).

د مکاشفې کتاب نه یوازی دا چې پطموس جزیره د یوحنا لپاره د جنت دروازه جوړه کړه، بلکه زمونږ د ژوند تیارو ته نور، خوشحالی او زمونږ خرابې شوي دنیا ته امید او ارزو زیرۍ ورکوي.

**هغه څه چې باید تاسو یی، سر ته ورسوی**

۱۴- د هغه برخې تر خوا د (ص) علامه ولیکی، چې زمونږ جمله په صحیح او اساسی ډول پوره کوي

هغه مکاشفه چې د پطموس په جزیره کې واقع شوه.

الف- راتلونکي حالات معلوم شو.
ب- یوحنا ونشو کولائ چې یوه د امید لار پیدا کړي.
ج- یوحنا د آخرې ورځو رویاګاني مشاهده کړي.

۱۵- دوه کتابونه چې د سمبولیک تصویرونو په لحاظ دنیایې دارومدار، د دجال حاکمیت او د مسیح آخری کامیابی، چې د یو بل سره ډیر نژدې مشابهت لري، عبارت دئ له:

الف- یشعیاه او اول پطروس
ب- دانیال او مکاشفه
ج- حزقیال او مکاشفه

۱۲- د مکاشفې ۱، ۲۱ او ۲۲ بابونه ولولی. هر کله چې دا بابونه لولی، د څه احساس کوي؟ آیا دا چې عیسی به یوه ورځ بیرته راځي ویره او هراس لري؟ آیا د یوحنا دعا په ۲۲: ۲۰ کې هم ستاسو دعا ده؟ دعا وکړي چې خدای ستاسو سره مرسته

وکړي چې هغه مو په خپل ټول ژوند او خدمت کې
په پرله پسې توګه په یاد وي.

خپل جوابونه مقایسه کړئ

۱- انجیلونه
تاریخ
د پولوس لیکونه
عمومي لیکونه
نبوت

۹- د- روح القدس به د شهادت او زیري ورکولو لپاره
توان او قدرت ورکړي

۲- الف- متی

۱۰- ب- خط

۳- ج- په غور او احتیاط سره پلټنه او عینی شاهدان

۱۱- الف- ۲- افسیان، فیلیپیان، کولوسیان
ب- ۶- عبرانیان
ج- ۱- رومیان او ګلتیان
د- ۳- او ۲ تسالونیکنان
ه- ۵- فیلیمون
و- ۴- ۱ او ۲ تیموتیوس او تیطوس

۴- ج- د پویا اعمال د عیسی په کار کې

۱۲- الف- د مسیحیانو لپاره ارزښتناک نصیحتونه وړاندې کوي.

ب- دا په ګوته کوي چې باید څنګه خلاصون حاصل کړو

د- ډیر په روښانه توګه د مسیح تعلیم بیانوي

و- شپونکو او کلیساګانو ته وایي چې په کومه طریقه خدمت وکړي.

۵- ب- د خدای په زوي دې ایمان راوړي او په هغه کې دې ابدی ژوند ولري.

۱۳- خپل جواب د هغه بحث سره چې د هر یو کتاب په حصه کې ورکړ شوي دي مقایسه کړه.

۲- الف- د ابن آدم دئ.

۱۴- آینده معلومه شوه

ج- یوحنا د آخري ورځو رویاګاني مشاهده کړئ.

۷- ب- لیږل شوي

۱۵- ب- دانیال او مکاشفه

۸- لوقا، امتونه

۱۶- ستاسو خپل جواب

شپږم لوست

# مونږ څنګه پدې باندې یقین کولای شو چې مقدس کتاب د خدای کلام دئ

هر یو مسیحي ته وروسته یا ډیر زر دا سوال پیدا کیږي چې: "مونږ څنګه یقین کولای شو چې مقدس کتاب رښتیا او د خدای کلام دئ؟" دا سوال څه نوئ سوال ندئ. د انسان لمړنۍ وسوسه او حمله د خدای د کلام په باره کې پیل کیږي. شیطان د مار په شکل شو او حوا ته ئې وویل: "آیا خدای رښتیا ویلی دی...؟" (پیدایښت ۲ : ۱)

شیطان اوس هم پدې کوشش کې دئ چې هغه پخوانئ سوال مونږ ته بیا رامنځ ته کړي "آیا خدای رښتیا ویلی دي؟" د شیطان په مقابل کې د خدای کلام زمونږ لپاره دفاعي دیوال دئ. مونږ د خدای کلام د هغه خلکو د مرستی لپاره استعمالوو چې د شک او ویرې د حملو سره مخامخ وي. د خدای کلام د هغه خلکو لپاره چې په صداقت سره غواړی چې رښتینې لار پیدا کړي د ټولو نه ښه لارښوونکی او رهنما دئ. "بلکه مسیح مالک وګڼئ او په خپلو زړونو کې ئې مقدس ګڼئ" او چې څوک ستاسو نه ستاسو د امید د وجې پوښتنه وکړي هغه ته د جواب ورکولو د پاره هر وخت تیار

اوسئ خو په نرم مزاجئ او په احترام سره" (اول پطروس ۳: ۱۵- ۱۶)

په تير لوست کې مو د مقدس کتاب د فهرست په هکله معلومات حاصل کړ. راځي چې اوس دې سوال ته جواب ورکړو چې "ولی پدې خبره ایمان لرو چې مقدس کتاب رښتیا وایې."

## هغه څه چې تاسو به يئ پدې درس کې ولولئ

- د خدای د کلام تاثيرات
- د خدای د کلام وحدت او یوالئ
- د خدای کلام د هرې غلطئ څخه ساتل
- هغه کشفونه چې پدې هکله پيښ شوي دي
- د خدای د کلام فوقيت او ښه والئ
- د خدای په کلام چې د نبوتونو پوره کيدل
- د خدای په کتاب کې د مؤلف نوم
- د خدای په کلام کې د پيشګويانو سر ته رسيدل
- د خدای د کلام څخه د غير احتمالی برخو لرې کول
- د خدای د کلام بقا

## دا درس به تاسو سره مرسته وکړي تر څو....

- د مقدس کتاب په هکله هغه دلیلونه بیان کړی چې دا څرګنده کړي چې مقدس کتاب رښتیا دئ
- پدې یوه شی چې مقدس کتاب په خپله حقیقت دئ او کیدای شي چې ستاسو په ژوند کې کتهور وي.

د "شاهد" کلمه د یو شي په باره کې په دې معنی ده چې هغه شئ بلکل تثبیت او واضح دئ. ډیر داسې دلیلونه او شواهد موجود دي چې دا په ډاګه کوي چې مقدس کتاب د خدای حقیقی کلام دئ. مونږ پدې باره کې د ۹ دلیلونو څخه کار اخلو چې پدې هکله شاهدي ورکوي.

## د شاهدۍ د عنوانونو لاندې به تاسو ته ذکر کړای شي.

- د خدای د کلام تاثیرونه
- د خدای د کلام وحدت او څرنګوالئ
- د خدای کلام د هرې غلطۍ څخه ساتل
- هغه کشفونه چې د خدای د کلام په هکله بیان شوئ دئ

- د خدای کلام ښه والئ او اوچتوالئ
- د خدای په کلام کې د لیکونکي نوم
- د خدای په کلام کې د نبوت بشپړتیا او پوره کیدل
- د خدای د کلام څخه د غیر احتمالي برخو ایستل
- د خدای د کلام بقا

## د خدای د کلام تاثیرونه

د مقدس کتاب هغه اثرات چې د طبیعت څخه اوچت دي د دې خبرې شاهدان دي چې هغه د طبیعت څخه هم اوچته منشا او منبع لري. د خدای د وعدو پوره کیدل دا خبره ثابتوي چې دا وعدې حقیقت لري او د اعتبار وړ دي.

د مریضانو شفا سره د معجزو، د مخدره موادو او شرابو څخه خلاصون او د میلونونو خلکو په ژوند کې بدلونونه راتلل چې د هغوی د دعاګانو په جواب باندې محکم ولاړ دي، نو دا قسمه شاهدي د دې خبرې پوخ ثبوت دئ چې د دې وعدو تر شا د خدای لاس دئ.

یوه ورځ یو ملحد، یو مبشر د بحث او مناظرې لپاره دعوت کړ. مبشي دا دعوت په دې شرط سره قبول کړ چې باید سل تنه له ځان سره راولي او هغوی ته شهادت

ورکړي چې خدای څنګه د هغوی په ژوند کې بدلون راوستئ دئ. او باید چې ملحد هم سل تنه راولئ چې هغوی ته شهادت ورکړي چې الحادی عقایدو او نظریاتو په کومه طریقه د هغوی ژوند کې بدلون راوستئ دئ. د نتیجې د معلومولو لپاره حاجت نشته. هغۀ مباحثه ونشوه، ځکه چې هغه ملحد ونشو کولای چې سل تنه د دې شهادت سره پیدا کړي چې هغویووایې چې دې الحادي عقایدو د هغوی په ژوند کې څنګه بدلون راوستئ دئ.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- هغه پلټنه او تحقیق چې په برازیل کې د دوه نسلو لپاره وشوه، د هغې څخه دا معلومه شوه چې اقتصادي نوان او قدرت د مسیحي کورنیو د غیر مسیحي کورنیو څخه زیات ؤ. د دې دلیل په بنسټ لاندې جمله پوره کړئ

هغه تاثیر چې مقدس کتاب یې د خلکو په ژوند کې د بدلون په ارتباط لري، نو د دې خبرې شاهدي ورکوي چې مقدس کتاب ....

الف- د خدای کلام دئ او خدای د هغه په وسیله کار کوي.

ب- فریبې کتاب دئ او خلکو ته فریب ورکوي.

ج- د روان شناسي په لحاظ یو پرمخ تللی کتاب دئ.

## د خدای د کلام وحدت او ثرنګوالئ

په خپل فکر او خیال کې هغه وخت راولي کله چې ۴۰ کسانو مقدس کتاب:

یعني حقوق پوهانو، ډاکټرانو، ماهیګرانو، پادشاهانو، دهقانانو، شاعرانو، عسکرو، تجارانو او شپنو لیکلو. دغه څلویښت کسانو مقدس کتاب د ۱۲۰۰ کالو په موده کې ولیکلو. د هغه وخت نه پس چې موسی، شریعت د ۱۵۰۰ کالو په موده کې د مسیح د زیږیدلو څخه دمخه ولیکه او د ۱۰۰ کالو په موده کې د عیسی د پیدایښت څخه وروسته د مکاشفې کتاب یوحنا ولیکلو. نو د یوې خوا د وخت ثرنګوالئ او د بلې خوا په دومره اوږده موده کې د هغوی شوق او علاقه لرل او بیا د مختلفو ځایونو او منطقو اثرات چې دې لیکوالو به ورسره ارتباط درلود نو دا بل خوا. خامخا به ځینې مشکلات منځ ته راوستي وي چې د دوی په کتاب کې د یوالې او وحدت لرلو شاهدان اوسو.

سربیره پر دې ټولو حالاتو، په مقدس کتاب کې بیا هم یوالئ موجود دئ. مطالبو یوالئ او د تعلیمونو

یوشانوالئ او د مقدس کتاب مختلف لیکوال د دې خبرې شاهدان دي چې د دې ټولو د الهام او مطلب او مرام سرچینه یوه ده، یعني خدای.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۲- د لاندې برخو تر خوا د (ص) علامه ولیکئ کوم یوه چې زمونږ جمله په صحیح او اساسي ډول پوره کوي.

څرنګوالئ او یوالئ کولای شي چې په یو وخت کې به مقدس کتاب ووینې ځکه چې:

الف- د خدای کلام د یو کس په لاس چې خدای دئ، الهام شو.

ب- د وحدت موضوع د یو بل څخه جدا کول ګران کار دئ.

ج- د مقدس کتاب مختلفو لیکوالو خپل کتابونه د یو موضوع په هکله ولیکل.

د- د مختلفو وختونو خلکو زیات په یوه موضوع باندې په غور سره فکر کاوۀ.

## د مقدس کتاب د غلطیو څخه محفوظ ساتل

د مقدس کتاب د غلطیو څخه محفوظ ساتل د تاریخي واقعاتو رښتینوالئ، خلک، ځایونه، نسب نامې، اجتماعي دودونه او سیاسي لاړښونې په کې شاملي دي.

د انسانانو د پوهې په زیاتیدو غلطې نظریې او فکرونه ترې لیرې غورزول کیږي. ټول کتابونه د بدلون په حالت کې وۀ، مګر دا خبره د مقدس کتاب په هکله صداقت نلري. د مقدس کتاب لیکونکی د لیکلو په وخت کې د غلطو عقایدو په خطر کې وۀ. مګر خدای د هغوی حفاظت وکړ او دا اجازه یې ورنۀ کړه چې لږه غوندې غلطي هم په مقدس کتاب کې داخله شي. خدای مقدس کتاب له هرې اشتباه او غلطیو څخه وساته، د هغه نصیحتونه نن هم د عمل بڼه اختیاروي. سره د دې چې مونږ نشو کولای چې دوه کسان پیدا کړو چې په پوره توګه یو فکر او خیال ولري. خو بیا هم خدای د دې لیکوالو حفاظت وکړ چې د هغوی مسئلی د مختلفو اړخونو په هکله د یو بل سره توپیر ونلري.

د تاریخ لیکونکي ځینی وخت د رهبرانو او د ملتونو ګناه او اشتباه په عمدي توګه پټوي. مګر مقدس کتاب په خپله هره موضوع کې په بشپړه توګه بې طرفه او صحیح دئ او ټول واقعات چې څرنګه پیښ شوي هماغه رنګ یې څرګند کړي دي.

مقدس کتاب نه یوازې دا چې د خپلو پیاوړو خلکو مثبت کارونه څرګند کړي دي بلکه د هغوی اشتباه ګاني او غلطۍ یې هم بیان کړي دي. د هغوی د غلطیو ذکر له دې سببه شوي دئ تر څو مونږ د هغوی څخه عبرت واخلو. یو پدې خاطر په مقدس کتاب کې هیڅ شئ پټ نه دئ ساتل شوي، نو دا کار د دې خبرې تصدیق کوي چې مقدس کتاب د هرې غلطۍ او شتباه څخه پاک دئ او د هغه رښتینوالئ څرګندوي.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۳- مقدس کتاب د یهودو د قوم د تاریخ په ځای کې، د دې قوم ګناه او سزا او د هغوی پیاوړئ او اتل په ښه توګه څرګندوي. دا حکم

الف- د تاریخ د یو له مشخصو صفتونو له جملې څخه دي ځکه چې ملتونه غواړي چې د خپلو ماتو او اشتباه ګانو په هکله په صحیح حقیقت باندې پوه شي.

ب- دا شهادت په مقدس کتاب باندې ورکوي چې هغه د هرې غلطۍ څخه ساتل شوئ او د خدائي الهام په وسیله لیکل شوئ دئ.

۴- یو د مقدس کتاب د غلطیو څخه د ساتلو شاهد دا دئ چې د هغه لیکوال

الف- د زماني او وخت مروجو عقايدو ته يې په کې ځای ور کړۍ دئ.

ب- د نورو ليکوالو سره به يې مصلحت کاوۀ هسې نه چې څه غلطي په کې وکړي

ج- هغوی د خدای په کنټرول کې وۀ او د هرې اشتباه او غلطۍ څخه به يې ساتل.

خپل جوابونه مقايسه کړۍ

## هغه کشفونه چې د خدای د کلام په هکله واقع شوي دي

تاريخ پيژندل، هغه علم دئ چې زوړ فرهنګ او ادب د مطالعې لاندې نيسی، د پخوانو نسخو او آثارو د مطالعې څخه دا ثابته شوي ده چې د مقدس کتاب ليکل بلکل صحيح او رښتيا دي.

د مثال په توګه د يشعياه په ۲۰: ۱ برخه کې د سرګن نومې پادشاه په هکله خبرې شوي او د مقدس کتاب پيروانو هغه ته د قصه خوان لقب ورکړۍ دئ. مګر د هغه مانۍ په ۱۸۴۲ کال کې د يو فرانسوي تاريخدان لخوا کشف شوه. يشعياه ۲۰: ۱ د سرګن حمله چې په اشدود باندې کوله چې يو د فلسطين له ښاريو څخه وو، او د هغه د نيولو په هکله خبرې کوي. دا ليکنې او

قصې د سرګن د ماڼۍ په دیوالونو لکه د نقاشۍ او رسامۍ په نمونه کشف شوي دي.
ټوقماران نشي کولای چې د مقدس کتاب تاریخي بیانونه نور په ټوقو او مسخرو سره تصور کړي، ځکه چې د مقدس کتاب رښتینوالئ د آثار قدیمه او تاریخ پوهانو په وسیله ثابت شوئ دئ.
د ژبو پیژندل، د ژبو علم دئ. د دې علم متحصیصینو، د لغاتو او ګرامو په اساس د هغوی څخه کار اخستئ دئ، او د هغوی د ساتلو وخت کولای شي چې متن او زمانه مشخصه کړي. د دې فرمول په طریقې سره ژبې پوهانو دا تصدیق کړیدئ چې نبوتونه او پیشګوئې د دوی د سرته رسیدلو نه دمخه واقع شوي دي. د دغه کار یو مثال دا دئ چې د "مړه سیند د دستاویزونو" څخه دا خبره څرګندیږي چې نبوتونه د اساراتو او بندې کیدو په ارتباط لیکل شوي دي او له هغې د پیښیدو څخه مخکې دي.
نورو علمونو هم د مقدس کتاب د صحت او رښتینوالئ تصدیق کړئ دئ. نن ورځ انسانان د نفتو کشف د مقدس کتاب تاریخ او بنسټ په اساس ګڼي.
ډاکټرانو ډیر نصیحتونه د صحت او تندرستي په هکله د هغه شریعت څخه اخستي دي چې ډیر وخت مخکې د یهودو قوم ته وربښل شوي وو. د دې اړوند نور

کشفونه مؤمنان په تعجب او حیرانتیا کې نه آچوي ځکه چې مقدس کتاب د خدای کلام دئ. مونږ په دې بنه پوهیږو چې د مقدس کتاب د لیکلو د اثبات لپاره څه ضرورت نشته، مګر د هغه خلکو لپاره چې تر اوسه پورې په دې باره کې شک کوي، معتبر شاهدان د هغه د حقیقت او اعتبار په هکله موجود دي.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

**۵**- هغه موضوع او برخه چې زمونږ جملې په صحیح او اساسی ډول سره پوره کوی تر خوا ئې د (ص) علامه ولیکۍ:

د مقدس کتاب ربنتینوالئ، د تاریخ پوهانو او ژبې پوهانو او .... په پوره توګه دا خبره ثابته شوې ده چې:

الف- بحثونه

ب- نظری څیړنۍ علمي کشفونه

ج- علمي کشفونه

**۶**- د ډیرو کلونو لپاره ژبې پوهان په دې نظر وو چې د نړۍ ټولې ژبې د څلور عمده ژبو څخه اخستې شوې دي. ډیر وروسته دا سرچینه دوه ژبو ته ورسیدله. د ژبې پوهانو نوې طریقې باید تاسو حیران نکړي د پیدایش ۱: ۱۱ په مطابق فکر

وکړۍ چې هغوی کومې نتیجې ته رسیدلي دي؟

....

## د خدای د کلام ښه والۍ او اوچتوالۍ

هغه کتاب چې د مهربان او مقدس او عالم خدای په وسیله الهام شی، نو باید چې په اخلاقي درسونو کې د نورو کتابونو څخه لوړ او اوچت معیار ولري.
مقدس کتاب داسې کتاب دۍ. د هغه ساده قیصې حتیٰ ماشومان کولای شي چې ولولۍ او پرې پوه شي. او په هم دې حال بیا اتل څیړونکی او پوهان نشي کولای چې په پوره توګه د هغه د معنیٰ او مفهوم ژوروالی ته ورسیږي او پرې پوه شي. مونږ که څه هم سل ځله مقدس کتاب لوستلۍ وي، خو بیا به هم په کې نوي شیان پیدا کړو چې تر اوسه پوری مو شاید لیدلي نه وي. خدای ستاسو سره د خپل کلام د لوستلو په وسیله خپلو خبرو ته دوام ورکوي.
هغه قانون چې موسیٰ په هغه وخت کې د خدای څخه وموند، د هغه قانون څخه چې په هماغه زمانه کې موجود وو په پوره توګه لوړوالۍ او ښه والۍ درلود. په وروستنیو پیړو کې ډیرو هیوادونو خپل قانون د هغه قانون په شان جوړ کړ چې ډیر پخوا د خدای لخوا هغوی ته وربښل شوي وو.

د مقدس کتاب ښه والئ او اوچتوالئ نن ورځ ټولو محقیقینو، خیړنوالو او عالمانو ته ښکاره دئ. د هغه د امثالو ژور تعلیم، د هغه د زبور معنوي تعلیم، او د تاریخ صداقت تراوسه پوري په خلکو باندې تاثیر کوي د مثال په توګه د هغه د ښو ادبیاتو څخه نن هم د ښو نمونو په شکل کار اخستلای شو.

د مقدس کتاب ښه والئ او اوچتوالئ د هر هغه شي نه چې انسان جوړ کړئ لیرئ نو مونږ دا مطلب دې عقیدی ته رسوي چې د مقدس کتاب مفهوم او اهدافو سرچینه د مافوق الطبیعه څخه اخستل شوي ده.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۷- د مقدس کتاب ښه والئ او اوچتوالئ ته په لاندې موضوع ګانو کې کوم یو اشاره کوي؟

الف- د هغه اوچت اخلاقي تعلیم

ب- د هغه د کلیمو په غور سره تعریف او بیان

ج- د هغه مناسبت درلودل د ټولو انساني علومو سره

د- د هغه ښائسته او د څرمنې پوخ

ه- د هغه قانون چې نن هم د اجرا کولو وړ دئ

و- د هغه ادبي اوچتوالئ او ښه والئ

## د خدای په کلام کې د مؤلف نوم

که چیرې یو دروند او غټ کتاب د خپل مؤلف نوم ولري، نو پدې باندې باور کوو چې هغه کس دا کتاب لیکلئ دئ. خدای خپل ځان ته د مقدس کتاب د مؤلف خطاب کوي او مونږ د هغه د الهام د څرنګوالي څخه خبروي.

دویم تیموتیوس ۳: ۱۶ "هره صحیفه د خدای د روح د الهام په وسیله ده او د تعلیم الزام، اصلاح او صداقت د تربیت د پاره فائده مند هم."

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۸- په لاندې آیاتونو کې کوم یو د مقدس کتاب د مؤلف نوم څرګندوي؟ د خپل مقدس کتاب له مخې هر یو دا آیاتونه پیدا کړئ او هغه ولولئ:

الف- خروج ۲۴: ۱۲

ب- تثنیه ۵: ۳۱

ج- ملاکي ۴: ۴

د- ۲ تیموتیوس ۳: ۱۶

ه- ۲ پطروس ۱: ۲۱

و- مکاشفه ۱: ۱

خپل جوابونه مقایسه کړئ

## د خدای په کلام کې د نبوتونو پوره کول

د مقدس کتاب الهام نبیانو ته لکه د فلم غونډې د امپراطوریو ظاهریدل او له منځه تلل او د اورشلیم بیا ودانیدل او نوري پیښې چې په راتلونکي وخت کې به سر ته ورسیږي ولیدلې، او د هغوی بیان یې وکړ. هغه شیان چې هغوی ولیدل او ویې لیکل، یا هغه پیښې چې په راتلونکي وخت کې به واقع شي، نو دا ټولې پیښې چې شوي دي یا په راتلونکي کې پیښیږي دوی ته نبوت ویلئ شي. د پیشګویو پوره کیدل یا سر ته رسیدل د هغوی الهام ته اشاره کوي.

یواځې پیشګویې دا نه ثابتوي چې دا پیشګویې د خدای د الهام په وسیله شوي ده. د مقدس کتاب انبیا سر تیره خلک وو چې د پیسو ګټلو لپاره یې پیشګویې نه کوله. په ډیر پیشګویو کې اخطارونه او د سزا خبرې وي، ځکه چې په هغه وخت کې خلکو سمه او صحیح لار پریښې وه، او په غلطو لارو کې به یې ژوند کاوه. مګر په هماغه وخت کې به یې هغوی سره دا وعده کوله که چیرې دوی خپلې ناوړه او غلطې لاري پریږدي او اصلاح شي، نو هغه سزا ګانی چې په دوی باندې راتلونکي وي د هغې نه به په امن کې شي. دا ټول نبوتونه او پیشګویانې په خپل وخت کې سر ته ورسیدلې.

د مقدس کتاب ټول نبوتونه د دې خبرې شاهدان دي چې مقدس کتاب د خدای الهام شوي کتاب دي، نو یوازې په دې خاطر چې دا نبوتونه سر ته ورسیدل، مګر په دې خاطر چې همیشه خدای انسانانو ته څرګندوي او د هغوی تر منځ د نژدې ارتباط په هکله یادونه کوي.

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ**

۹- عوبدیا ۱: ۱، میکا ۱: ۱، ناحوم ۱: ۱ او حبقوق ۱: ۱ ۲: ۲ ولولئ.

دا آیاتونه د دې مطالبو څخه ډک دي چې د .......... طریقې نبیانو ته وربښل شوي دي.

الف. قوي اثر

ب- هغه رویا ګانې چې د راتلونکي واقعاتو په هکله خدای هغوی ته ور کړي دي

ج- د نړۍ د شرایطو او احتمالي حادثو مطالعه

۱۰- د لاندې دوه آیاتونو څخه هر یو نبوت او د هغوی د سر ته رسیدلو څرنګوالئ بیانوي. هغه په غور سره ولولۍ او د هغوی په هکله یو لنډ مضمون ولیکۍ:

الف- پیدایښت ۴۱: ۲۵- ۳۲ او پیدایښت ۴۱: ۵۳- ۵۴.

ب- یرمیا ۲۵: ۱۱، ۲۹: ۱۰ او عزرا ۱: ۱.

ج- قاضیان ۱۳: **۵** او **۱۵**: **۱۴- ۱۵**.

**۱۱- متی ۱: ۲۲، ۲: ۴- ۲ او ۱۲- ۱۸، ۴: ۱۲- ۱۲، ۸: ۱۲- ۱۷، یشعیا ۵۳، اعمال ۲: ۱۴- ۲۱،او ۳۱، ۳: ۱۸ مطالعه کړی.**

د وعده شوي مسیح په هکله پیشګویانو د عمل جامه واغوسته. د پیشګویانو ځیني برخې چې د کلیسا په هکله دي پدې ورځو کې هم سر ته رسیږي او ځیني نورې به په راتلونکي کې سر ته ورسیږي. که چیرې مونږ پیشګویاني د خدای له خوا نه الهام شوي قبولي کړو، نو باید د هغوی سر ته رسولو لپاره معین شوي شرطونه وجود ولري. که چیرې یو نبوت د خدای لخوا څخه وي نو په لاندې جملو کې کومه یوه صحیح ده؟

الف- نبي بایدد راتلونکي وخت د پیشګویې په وسیله پیسی پیدا کړي.

ب- نبوت باید رښتینئ او حقیقي ثابت شي.

ج- نبوت باید د خدای د شخصیت او شان سره یو شان وي.

د- نبوت باید خلک د خدای طرف ته راوبلي.

خپل جوابونه مقایسه کړی.

## د خدای د کلام په هکله غیر احتمالي نسخې لرې کول

د کشف د یو ځو طریقو څخه دا معلومه کړی چې یعني چا دا کار کړئ دئ، د هغه ټولو امکاناتو لټون او هغه آزمایل او د هغه امکاناتو او وسیلو له منځه وړل چې د هغې په باره کې احتمال او ګمان لږ وي. د دې خبرې د تشخیصولو لپاره چې د مقدس کتاب لیکوالو به مقدس کتاب په کومه طریقه لیکلی وي، نو درې ګمانونه موجود دي:

۱- هغوی ښه، بد او یا غافله کسان وو چې خپلې شخصي عقیدی یې لیکلې.
۲- هغه خلک وو چې د شیطان له خوا الهام کیدل.
۳- هغه خلک وو چې د خدای لخوا الهام کیدل.

د مقدس کتاب لیکوال په خپله د دې خبرې اعتراف کوي چې هغوی د خدای له خوا الهام کیدل. نو که چیرې هغوی د خدای له خوا الهام کیدل. نو که چیرې هغوی ښه کسان وو نو د دروغجن ثابتیدو په صورت کې به هغوی هیڅ کله هم دا خبره نه وه کړې. نوموړو کسانو به هغه وخت د یو بدي خبرې تائید او یوه ښه خبره به ئې تبدیله کړې وه که چیرې دوی په خپله بد او غافله خلک وو. خو د مقدس کتاب حکمت، فضیلت،

د خطا څخه ساتل دا نشي منلئ چې دې کتاب به د غافله فکرونو او یا د بدو خلکو څخه سرچینه آخستي وي.

په همدې توګه ګناهګارانو خلکو نشو کولائ چې داسې بې ساري مطلبونه او د معنی څخه ډک مقصدونه راجمع کړي او داسې مقدس کتاب خلکو ته وړاندې کړي، نو هیڅکله یو ګناه ګار نشی کولائ چې خپله ګناه په خپله محکومه کړي. په داسې حال کې چې مقدس کتاب داسې یو کتاب دئ چې د ټولو انسانانو ګناه ګاني محکوموي.

د انسانانو کمزورئ د راتلونکي وخت د پیشګویې په هکله دا معنیٰ لري چې نبیانو بې د آسمانی الهام او قدرت څخه نبوت یا پیشګویې نشوه کولائ. سره د دې د مقدس کتاب د پیشګویانو په غور سره سرته رسیدل، درې واړه امکانات ښه او بد او یا غافلیدل د لیکوالو حذفول او په دې نظر سره د هغوی په مخالفت لاس پوري کړو چې هغه د هغوی شخصی عقاید وګڼو.

مقدس کتاب د بدیو په خلاف جنګ کوي، شیطان محکموي او د هغه د شکست او ناوړه سزا په باره کې خبرې کوي. شیطان نشو کولائ چې د مقدس کتاب ساتلو الهام چا ته ورکړي، ځکه چې هغه هیڅ کله نه غواړی چې نیکې ته ترقي ورکړي او بدي محکومه

کړي. په داسې حال کې چې مقدس په دې شیانو پسې لاس وهنه کوي.

د مقدس کتاب د احتمالي برخو حذفولو څخه مونږ دې نیتجې ته رسیږو چې د مقدس کتاب لیکونکي د خپلو کتابونو په جوړولو او ساتلو کې د خدای له طرفه الهام شوي وو.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱۲- مونږ ولې دا باور لرو چې مقدس کتاب د خدای الهام دئ؟ په لاندې موضوعاتو کې یوه جمله د دې سوال صحیح جواب دئ. هغه برخه کومه یوه ده؟

الف- ښه او بې ساري مطلبونه همیشه د انسانانو لخوا سرچینه اخلي چې نیک دي او بیا غافل شوي دي.

ب- ښه او نیک انسان د دروغو دعوي نه کوي.

ج- د نبوتونو صحیح پوره کیدل، په آسماني او مافوق الطبیعه الهام باندې دلالت کوي.

د- شیطان نشو کولائ چې د مقدس کتاب لیکوالو ته الهام ورکړي څکه چې خپل ځان به محکوم کړي.

## د خدای د کلام بقا او شتوالئ

د مقدس کتاب ځینې برخي تقریباً ۳۵۰۰ کاله پخوا لیکل شویدي د خدای د کلام نوي برخې د ۱۹۰۰ کالو پخوا زماني سره ارتباط لري د خدای د کلام بقا او شتوالئ تر نن ورځې پورې د دې خبرې ښکارندو دئ چې خدای ئې د خپل کلام د حفاظت او ساتلو په هکله لري.

وخت او زمانه د کتاب يو له بدو دښمنانو څخه حسابيږي. زاړه شوي کتابونه نن نه پکاريږي، ځکه چې هغوی خپل ارزښت له لاسه ورکوي او دغه وخت کې کتاب له منځه ځي. مګر د مقدس کتاب په هکله داسې نه دئ. دا حقیقت لري چې مقدس کتاب په زوړوالئ، نن هم د شلمې پیړی د مشکلاتو حل دئ. او د هغه پلرول په نن ورځو کې د دې خبرې ثبوت دئ چې مقدس کتاب رښتيا، حقیقت او د خدای کلام دئ. مقدس کتاب د وخت او زماني په آزمايښت هم کامياب شوي دئ.

ولتر، يو فرانسوي ليکوال، داسې پيشګويې کړي ده چې د ۱۰۰ کالو په موده کې به د هغه ليکنې ټولې نړۍ کې خپري شي او مقدس کتاب به پس له هغې نه يوازی په موزيمونو کې موندل کيږي. بلکه د ولتر د

خبرې برعکس نن سبا مقدس کتاب یوازینې کتاب دئ چې ټول خلک ئې لولی.

د نړۍ په مخ هیڅ یو کتاب تر اوسه داسې په صحیح توګه ترجمه او چاپ شوي ندئ. په تیره زمانه کې چې لا چاپخانو وجود ندرلود، نسخه لیکونکی به که چیرې د یو معمولي غلطي سره مخامخ شول نو ټوله صفحه به یې له منځه وړله. نن ورځ ډیر پلټونکي او څیړنوال په هرې ترجمې باندې شپه او ورځ کار کوي چې تر څو د هغوی د صحت او ربنتینوالئ او د اشتباه څخه د پاکولو په هکله مطمین شي.

ډیرو پادشاهانو په څو ځله دا کوشش کړئ دئ چې مقدس کتاب د خپل هیواد څخه راټول او له منځه یوسې او د هغه لوستونکی ئې په مرګ باندې محکوم کړي دي. همدارنګ انتقاد کونکو په خپلې تیرې توري سره په مقدس کتاب باندې حملې کړیدي. مګر مقدس کتاب د خپلو دښمنانو د لاسه تر اوسه پوري په امن کې ساتل شوي دئ. اول پطروس ۱: **۲۴ - ۲۵** وایي: "هر یو بشر د واښو په شان دئ او د هغهٔ ټول شان او شوکت د واښو د ګل په شان دئ، واښه او چیرږی او ګل ئې رژیږی خو د خدای کلام به تل تر تله قائم پاتې وي."

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ**

۱۳- په لاندې موضوعاګانو کې کوم یو دې خبرې ته اشاره کوي چې مقدس کتاب د زمانو په امتحان کې کامیابي حاصله کړېده؟

الف- دا حکم نن ورځ زمونږ په هکله هم صادق دئ.
ب- په کلونو کلونو مقدس کتاب په لویه پیمانه سره پلرول شوي دي.
ج- مقدس کتاب غالباً د ځرمني پوخ سره وړاندې کېږي.
د- په دومره موده کې هیڅا ونشو کولائ چې هغه له منځه یوسي.

**خپل جوابونه مقایسه کړئ**

۱- الف- د خدای کلام دئ او خدای د هغه پوسیله کار کوي.

۸- تاسو باید دا ټولې خبرې په نښه کړئ. دا ټول آیاتونه دا خبره څرګندوي چې د مقدس کتاب رښتینئ مؤلف خدای په خپله دئ.

۲- الف- د خدای کلام د یو شخص له خوا چې خدای دئ الهام شو.

ج- مختلفو ليکوالو خپل کتابونه د يوې شريکي موضوع د ليکلو په خاطر يو شان وليکل.

۹- ب- هغه رويا ګاني چې خداى هغوى ته د راتلونکي وخت په هکله ورکړي دي

۳- ب- د هغه په پاکوالي او د غلطيو نلرلو په هکله شاهد دي او دا ښکاره کوي چې مقدس کتاب د خداى لخوا الهام شوي او ليکل شوي دئ.

۱۰- الف- د قحطۍ وخت او د مصر د بيا آبادۍ وخت

ب- کورش د يهوديانو د آزادي فرمان به صادر کړي.

ج- شمشون به بني اسرائيل د فلسطينانو د لاسه خلاص کړي.

۴- ج- د خداى په لاس کې ؤ او خداى هغوى د اشتباه او غلطۍ نه وساتل.

۱۱- الف- غلط

ب- صحيح

ج- صحيح

د - صحيح

ه- صحيح

۵- ج- علمي کشفونه

۱۲- باید چې ټولې موضوع ګاني په نښه کړئ څکه چې ټولې صحیح دي.

۲- په شروع که د نړۍ ټولو خلکو په یو ژبه خبرې کولې.

۱۳- الف- زمونږ په هکله دا ننئ حکم هم صادق ثابتیږي.

ب- په کلونو کلونو مقدس کتاب زیات پلورل شوي دي.

د- د دې کلونه په موده هیڅچا ونشو کولای چې دا له منځه یوسي.

۷- د هغه اوچت او لوړ اخلاقی تعلیم

ج- د هغه د انسانانو سره په هره علمي سطحه کې مناسبت درلودل.

ه- هغه قانون چې نن هم ورڅخه کار اخستل کیږي.

و- د هغه ادبي لوړوالئ او ښه والئ

آیا تاسو اوس تیار یاستي چې ورستئ امتحان چې پنځم او شپږم لوستونو پورې اړه لري جواب ورکړۍ.
دا لوست بیا تکرار کړئ او د امتحان د کتابچي له د ستور العمل څخه متابعت او استفاده وکړۍ. هر کله چې د ځوابونو پاڼه خپل ښوونکي ته ور ولیږۍ، نو د هغه څخه د بلې دورې غوښتنه وکړۍ.